**عمومي اسامبله**

**امنيت شورا**

خپريدل: عمومي
۷ مارچ ۲۰۱۶
اصل: انګليسي

عمومي اسامبله
اويايمه ناسته
د اجنډا ۳۹ ماده
**د افغانستان حالت**

د امنيت شورا
يو اويايم کال

**د افغانستان وضعيت او پر نړيواله سوله او امنيت يې اغيزې**

**د عمومي منشي راپور**

**لومړی: پيژندنه**

۱. دغه موجوده راپور د عمومي اسامبلې د ۶۸/۱۱ پريکړه ليک او د امنيت شورا ۲۲۱۰ (۲۰۱۵) پريکړه ليک په تعقيب په کومو کې چې له ما غوښتل شوي وو، چې په هرو دريو مياشتو کې په افغانستان کې د پرمختګونو په اړه راپور ورکړم، وړاندې کيږي.

۲. زما د ۲۰۱۵ کال د ډسمبر د ۱۰ نيټې (A/70/601-S/2015/942) د راپور د خپريدو راهيسې، دغه راپور د پام وړ بشري ، پراختيايي او بشري حقونو د هڅو په شمول، په افغانستان کې د ملګرو فعاليتونو په اړه تازه معلومات برابروي. راپور دغه راز د افغانستان په تړاو د کليدي سياسي او امنيتي پرمختګونو او د سيمه ييزو او نړيوالو پيښو لنډيز برابروي. د امنيت شورا د ۱۸۶۸ (۲۰۰۹) پريکړې سره سم، زما د ۲۰۱۵ کال د مارچ د ۱۰ نيټې (A/69/801-S/2015/151) د راپور د خپريدو راهيسې، په ضميمه کې د معيارونو او شاخصونو په لور د ترلاسه شوې برمختګ په اړه يوه ارزونه شامله ده.

**دويم: اړوند پرمختګونه**

۳. د سولې د يوه احتمالي بهير په لور د اقدامونو سربيره، د راپور ورکولو د مودې پر مهال، خرابيدونکي امنيت او مخ پر زياتيدونکي انتقاد کونکي سياسي اپوسيزيون د افغانستان پر حکومت فشار ډير کړ. د افغان سولې او پخلاينې د بهير په اړه د همغږۍ د څلور اړخيزې ډلې له لارې د حکومت د سولې هڅو وکولای شوای سيمه ييز خوځښت او ملاتړ ترلاسه کړ، خو د سولې د يوه احتمالي بهير په اړه د طالبانو ژمنې نا څرګندي پاته شوې. پداسې حال کې چې د انتخاباتي اصلاحاتو وړانديزونه د انتخاباتي اصلاحاتو د ځانګړي کميسيون لخوا پرمخ وړل شوي ، خو پلي کول يې ځنډيدلي ، او حتی د ۲۰۱۶ کال د اکتوبر د مياشتې د ۱۵ نيټې پارلماني او د ولسواليو د شوراګانو ټاکنو اعلان د اصلاحاتو لپاره نوې غوښتنې راوپارولې. لکه څنګه چې د

* د تخنيکي ملحوظاتو له امله د ۲۰۱۶ د مارچ پر ۱۱ بيا خپور شو.

شخړې شدت او پراخوالی په زیاتیدو دی، د راپور ورکولو د مودې پر مهال، امنیت په ناڅاپي ډول خراب شوی، چې په نتیجه کې یې د افغان وګړو په منځ کې زیات تلفات او بې ځایه کیدنه را مخ ته شوې. د افغانستان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونه په ټول هیواد کې د بلواګرو ډلو د ګواښونو پر وړاندې په اغیزمنه توګه د مبارزې کولو په برخه کې د پام وړ ننګونو سره مخ دي. د افغانستان حکومت د دوامداره سوکه اقتصادي ودې او کډوالی په زمینه کې د خپلې اقتصادي اصلاحاتو د اجنډا د پر مخ بیولو په برخه کې اقدامونه ترسره کړل او په بروکسل کې یې د وزیرانو په کچه د پراختیایي کنفرانس لپاره چمتووالی پیل کړ.

**الف. سیاسي پرمختګونه**

۴. زما د پخواني راپور د خپریدو راهیسې، د سولې د بهیر د بیا را ژوندي کولو لپاره هڅې په لار اچولې. د ۲۰۱۵ کال د ډسمبر په ۹، افغانستان د چین ، پاکستان او متحده ایالاتو سره د سولې د خبرو اترو په څلور اړخیزه چوکاټ موافقه وکړه. د افغان سولې او پخلاینې د بهیر په اړه د څلور اړخیزې همغږۍ ډلې د جنوري په ۱۱ او ۱۸ او د فبروري په ۶ او ۲۳ دوه ځله په اسلام آباد او دوه ځله په کابل کې سره وکتل. د فبروري د ۶ نیټې په ناسته کې، د همغږۍ ډلې غړو هیوادونو د لار نقشه یا طرح چې د سولې د بهیر په لور ګامونه تشریح کوي تصویب کړه. د فبروري د ۲۳ نیټې په ناسته کې، د همغږي ډلې غړو هیوادونو ټولو طالبانو او نورو ډلو ته بلنه ورکړه تر څو د افغانستان د حکومت سره د سولې د مستقیمو خبرو اترو په لومړي پړاو کې چې تمه کیده د ۲۰۱۶ کال د مارچ د میاشتې په لومړۍ اونۍ کې ترسره شي برخه واخلي. پاکستان د دغه پړاو خبرو د کوربتوب وړاندیز وکړ. سربیره پردې ، افغانستان او پاکستان موافقه وکړه چې د تاوتریخوالي د پای ته رسیدو په مقصد د دواړو هیوادونو د عالمانو ترمنځ همکارۍ ته د ودې ورکولو لپاره یوه کاري ډله جوړه کړي. په ورته وخت کې ، د ساینس او نړیوالو چارو په اړه د پګواش کنفرانسونو د جنوري په ۲۳ او ۲۴ نیټه په دوحه کې د "د دوهمي لار" تر عنوان لاندې خبرې اترې تنظیم کړې ، په دې خبرو اترو کې افغان سیاستوالو د انفرادي کسانو په حیث او همداراز د طالبانو استازو ګډون وکړ. د افغانستان ولسمشر ، اشرف غني د دوهم ټرک خبرو اترو سره کوم چې د رسمي بهیر څخه د باندې د خبرو اترو لپاره اسانتیا برابروي، خپل مخالفت وښود. د افغان سولې او بیا ادغام پروګرام ګډ سکرتریت راپور ورکړ چې د ۲۰۱۴ کال د ټولټال ۱۷۱۹ هغو په پرتله ، په ۲۰۱۵ کال کې ټولټال ۱،۴۶۲ تنه انفرادي کسان په دغه پروګرام کې شامل شوي وو .

۵. د طالبانو په تحریک کې د اختلافونو راپورونه زیات شوي. د ۲۰۱۵ کال د ډسمبر په لومړیو کې ، نا تصدیق شوي راپورونه ښیي چې ملا منصور د خپلومنځي جګړو په پایله کې د پاکستان کویټې ته څیرمه ټپي شوی یا وژل شوی دی. طالبانو د هغه وژنه رد کړه او د ډسمبر په ۵ مه یې د یوه شخص یو ریکارډ شوی غږ چې ادعا کیږي ملا منصور دی، خپور کړ . په عین حال کې ، د هرات ولایت په شینډنډ ولسوالۍ کې د دوو محلي قومندانانو تر منځ نښتې چې دواړه ملا منصور او ملا محمد رسول اخوند ته وفاداره دي، او د یوې ډلې مشر چې د ملا منصور له مشرتابه سره مخالفت لري، د نښتو په پایله کې د لسګونو طالب غړو د وژل کیدو راپور ورکړ.

۶. د راپور ورکولو د دورې په جریان کې ، د هغو موقفونو په حواله او شمول چې د دولت د اصلاحاتو د اجنډا د ورسپارلو او د امنیت، قانون د حاکمیت او حکومتولي په برخه کې د ننګونو د ځوابولو لپاره اړین دي، په دولت کې کړکیچونو په دوامداره

توګه د مهمو ګمارنو په اړه پرمختګ ورو کړ. د ډسمبر په ۱۱ ، له هغه وروسته چې د هغه مخکني رییس رحمت الله نبیل د پاکستان سره د ولسمشر غني د ښکیلتیا د مخالفت له امله استعفا ورکړه، مسعود اندرابي د ملي امنیت د ریاست د سرپرست په توګه وټاکل شو. د فبروري په ۲۱ ، حکومت پیر سید ګیلاني د سولې د عالي شورا د نوي رییس په توګه وټاکه. د فبروري په ۲۴ ، حکومت محمد فرید حمیدي د لوی څارنوال او تاج محمد جاهد د کورنیو چارو د وزیر په توګه وټاکل. د ملي دفاع د وزیر او د ملي امنیت د ریاست د رییس څوکۍ د هغو کسانو لخوا پرمخ وړل کیږي چې د سرپرست په ظرفیت کې یې کار کاوه. د سترې محکمې په عالي شورا کې د نهو پاته خالي پوستونه لپاره د ولسمشر له خوا نومول شوی عبدالحسیب احدي د ډسمبر په ۲۸ د ملي شورا د ولسي جرګې لخوا تایید شو. د جنوري په پیل کې ، د غزني او هلمند ولایتونو لپاره د والیانو مرستیالان په حکومت د عامه نیوکو له امله له دندې ګوښه کړای شو. د فبروري په ۹ ، ولسمشر غني د کندز ولایت لپاره نوی والي وټاکه. د ټولټال ۳۴ ولایتونو د مقام له جملې څخه دوه هغه یې د هغو کسانو په واسطه ډک شوي چې د سرپرستانو په حیث یې دندې پر مخ وړي او په هیواد کې د ښځینه ولایانو شمیر له دوو څخه یوې هغې ته هله راټیټ شو چې کله د غور والي د کابل د والي د مرستیال په توګه وټاکل شو.

۷. د سیاسي اپوزیسیون ډلو په رامنځ ته کیدو سره، هغه رجحان چې د تیر وار راپور ورکولو د دورې راهیسې دوام لري، سیاسي شامنظر لا لانجمن کړ. د ډسمبر د میاشتې په ۱۸، د ولسمشریزو ټاکنو پخواني نوماند عبدالرسول سیاف د افغانستان د ساتنې او ثبات د شورا د جوړیدو ، چې تر ډیره بریده د پخوانیو مجاهدینو د مشرانو او د پخواني ولسمشر حامد کرزي د حکومت له اراکینو څخه جوړه شوې، اعلان وکړ. یادي ډلې د ملي یووالي د حکومت د جوړیدو په اړه د ۲۰۱۴ کال د سپټمبر د ۲۱ نیټې د تړون د چټک تطبیق، په ځانګړي ډول د پارلماني او ولسوالیو د شوراګانو د ټاکنو د ترسره کیدو او د اساسي قانون د لوې جرګې د جوړیدو غوښتنه وکړه. د جنوري په ۱۴، د مالیې پخواني وزیر، انورالحق احدي د نوي ملي جبهې د جوړیدو اعلان وکړ. د دې جبهې غړي د افغان ملت ګوند یو شمیر شخصیتونه وو ، کوم چې په افغانستان کې یو سابقه لرونکی ګوند دی. دې ډلې د پارلماني او ولسوالیو د شوراګانو د ټاکنو سره په یوه وخت کې له وخت نه وړاندې د ولسمشریزو ټاکنو د ترسره کیدو غوښتنه وکړه او د ملي یووالي د حکومت په چوکاټ کې یې د یو شمیر پوستونو، د بیلګې په توګه د اجرائیه ریاست او د اصلاحاتو او ښې حکومتولۍ لپاره د ځانګړي استازي د پوستونو د رامنځ ته کیدو مسله، کوم موقف ته چې ولسمشر د ۲۰۱۵ کال په اکتوبر میاشت کې د ولسمشرۍ د معاونیت موقف ورکړ، په قانوني لحاظ تر پوښتنې لاندې ونیوله. د بیلابیلو پلاټفورمونو سره سره، د اپوزسیسیون زیاتره ډلې د ۲۰۱۴ کال د سپټمبر د ۲۱ نیټې هوکړه لیک داسې تعبیروي چې د ملي یووالي د حکومت کاري موده د دوو کلنو وروسته پای ته رسیږي او باید له د وخت څخه وړاندې ولسمشریزو ټاکنو او یا د لوې جرګې د رابللو له لارې د حکومت په جوړښت غور وکړي.

۸. د ډسمبر په ۲۹، د ټاکنیز تقویم په اړه د پریکړو لپاره د سیاسي اپوزیسیون ډلو او ملي شورا غوښتنو ته په ځواب کې ، ولسمشر غني د ۲۰۱۶ کال په نیمایي موده او یا د کال په ورستیو کې د ځنډیدلو پارلماني او ولسوالیو د شوراګانو د ترسره کیدو لپاره د حکومت اراده جوته کړه. د جنوري په ۱۸، د افغانستان د ټاکنو خپلواک کمیسیون د ۲۰۱۶ کال د اکتوبر ۱۵ د ټاکنو نیټه اعلان کړه. یاده اعلامیه د سیاسي اپوزیسیون، کتونکو ډلو او د اجراییه رییس د دفتر له خوا د یوې نږدې متفقه نیوکې سره

مخ شوې ، د اجرائیه ریاست ویاند ویلي چې اوسنی کمیسیون "هیڅ مشروعیت نلري" ، دا چې اصلاحات د ټاکنو لپاره یو وړاندې شرط و او دا چې د ټاکنو نوی خپلواک کمیسیون باید ټاکنې اداره کړي.

۹. که څه هم د انتخاباتي اصلاحاتو د سپارښتنو په برخه کې اقدامونه ترسره شوې ، د تطبیق چاري دریدلې. د هغو وړاندیزونو په شمول، چې موخه یې د ټاکنیزو درغلیو کمول ، د انتخاباتي ارګانونو اصلاح کول ، د شخړو د هوارولو د میکانیزم اصلاح کول او د رایې ورکوونکو ثبتول ، د لګښتونه کمول او د ۲۰۱۴ کال د اساسي قانون تعدیل، او همدارنګه د مختلف انتخاباتي سیستم لپاره دوه انتخابونه وړاندې کول وو، د ټاکنیزو اصلاحاتو ځانګړي کمیسیون حکومت ته د دسمبر په وروستیو کې خپل وروستي وړاندیزونه وړاندې کړل. حکومت د دې وړاندیزونو هرکلی وکړ او ځانګړي کمیسیون د ۲۰۱۵ کال د ډسمبر په ۳۱ خپل ماموریت واک تصویب کړ.

۱۰. د ډسمبر په ۲۱ او ۲۶، د ملي شورا ولسي جرګې د ولسمشر غني هغه دوه فرمانونه رد کړل چې د ټاکنیزو اصلاحاتو په اړه د ځانګړي کمېسیون یو شمیر وړاندیزونه یې تصویب کړې وو، په ځانګړي ډول هغه وړاندیزونه چې د ټاکنو د قانون او د ټاکنو د خپلواک کمیسیون او د شکایتونو د کمیسیون د تشکیلاتو ، دندو او واکونو د قانون په اړه وو. د مشرانو جرګې هم د جوړښتونو د قانون په اړه فرمان رد کړ. د پایلې په توګه، د غوراوي د کمیټې لپاره قانوني بنسټ دا وه چې تر څو د ټاکنو یو نوی خپلواک کمیسیون ونوموي، خو دا تر پوښتنې لاندې راغی ، او په دې سره یې د کمیسیون کار وځنډاوه. د فبروري په ۱۰ ، کابینې د جوړښتونو په قانون کې نوي تعدیلات تصویب کړل ، کوم چې به د غوراوي کمیټې ته د خپل کار د بیا پیل کولو اجازه ورکړي. ملګرو ملتونو د انتخاباتي اصلاحاتو په اړه مشورې او تخنیکي مرستې ته دوام ورکړ.

۱۱. د جنوري په ۸ ، ولسمشر غني د ملي شورا په مشرانو جرګه کې د ۳۴ ټاکل شوي سناتورانو کاري موده تر راتلونکو پارلماني ټاکنو وروسته وغځوله. د جنوري په ۱۸ ، د ملي شورا ولسي جرګې د یوې پخوانۍ نسخې تر ردولو وروسته، په کومه کې چې د نویو پراختیایي پروژو نشتون ، د ولایتي تخصیصاتو په برخه کې غیر توازن او دا چې د وړاندوینې وړ پارلماني ټاکنو لپاره یې هیڅ بودیجه نه درلوده اشاره شوې و، د ۱۳۹۵ (۲۰۱۶) مالي کال لپاره ملي بودیجه تصویب کړه. مجلس د جنوري په ۲۱ د ژمي رخصتۍ پیل کړې او ټاکل شوې چې د مارچ په ۵ نیټه به بیا کار پیل کړي. رخصتیو د سرپرست وزیرانو په اړه په قانون کې د ولسمشر له خوا د وړاندیز شوي تعدیلاتو په اړه د ولسي جرګې بحثونه وځنډول ، کوم چې ولسمشر ته د نامعلوم وخت لپاره د دفاع د وزیر ، د کورنیو چارو د وزیر او د ملي امنیت د ریاست د سرپرستانو د ساتلو واک ورکوي.

**ب. امنیت**

۱۲. امنیتي وضعیت په ۲۰۱۵ کې نور هم خراب شو. ملګرو ملتونو ټولټال ۲۲۶۳۴ امنیتي پیښې ثبت کړي ، چې دا د ۲۰۱۴ کال په پرتله ۳ سلنه زیاتوالی ښيي، او له ۲۰۰۱ کال راهیسې دوهم لوړ شمیر دی. زما د پخواني راپور له خپرېدو راهیسې، په هلمند او بغلان ولایتونو کې جګړې زور اخیستی او کندوز ولایت لا هم ناکراره پاتې دی.

۱۳. د هغو امنيتي پيښو له جملې څخه کومې چې د ۲۰۱۵ کال په ترڅ کې پيښې شوې ، ۷۰ يې په سويل ، ختيځ او سويل ختيځ سيمو کې ثبت شوي. غزنی ، هلمند ، کندهار ، کنړ او ننګرهار تر ټولو ناکراره ولايتونه و ، چې د ټولو امنيتی پيښو ۴۹ سلنه جوړوي. وسله والې نښتې او په لاس جوړ ځای پر ځای شوي چاودېدونکي توکي د ټولو پيښو ۷۹ سلنه جوړوي، چې دا د ۲۰۱۴ کال د ورته مودې په پرتله ۳ سلنه زياتوالی ښيي او د کال په جريان کې د بلواګرو د فعاليتونو ټوليزه لوړه کچه منعکسوي. د ۲۰۱۵ کال د اپريل د ۲۴ نيټې د طالبانو لخوا د پسرلني برید د پيل په توګه د اعلان سره سره ، ، لکه د تيروکلونو په پرتله ، يا د دې مسلې لپاره ، د ۲۰۱۵ کال په جريان کې جګړه په خپل زور او شدت په خپل ځای پاته شوې، د پسرلي په جريان کې د پيښو په ډول کې کوم واضح تغير تر سترګو نه شو.

۱۴. طالبانو په ۲۰۱۵ کال کې خپله سيمه پراخه کړه ، ، په عارضي ډول يې په شمال کې (د بدخشان ، بغلان ، فارياب ، جوزجان ، کندز ، سرپل او تخار ولايتونه) او په غرب کې (د بادغيس او فراه ولايتونه) او په شرق کې ( د نورستان ولايت) او په سويل کې (د هلمند او کندهار ولايتونه) سربيره د کندز ولايت مرکز په موقتي توګه ونيو. دا د ۲۰۱۴ په پرتله د پام وړ زياتوالی ښيي چې کله طالبانو يوازې دري مرکزونه ونيول. که څه هم چې د دولت پلوه ځواکونو لخوا د ډيری ولسواليو مرکزونه بيرته په ګړندۍ توګه ونيول شول ، د فارياب ، هلمند ، کندز ، سرپل او تخار ولايتونو پشمول، ډيری يې د اونيو لپاره د طالبانو په کنټرول کې پاتې شو. د ملا عمر د مړينې وروسته د طالبانو د نوې مشر په حيث د ملا منصور له ځای ناستې سره تړلې تاوتريخوالي د ياغيانو له خوا د حکومت ضد نوښتونه ورو نه کړل.

۱۵. راپورونه ښيې چې په ۲۰۱۵ کال کې د افغان ملي دفاعي او امنيتي ځواکونو په منځ کې د تلفاتو په برخه کې د پام وړ زياتوالی راغلی دی ، ۲۰۱۵ کال هغه لومړی کال دی چې پکې ځواکونو د نړيوالو پوځي مرستو په کميدو سره د دولت ضد عناصرو سره مقابله وکړه. د ناکافي استخدام ، د پوځ د ليکو څخه د کميدو لوړې کچې ، لوژيستکي کمبود ، پلان جوړونې او هوايي ملاتړ او د همغږي په شمول، جدي نيمګړتياوو د ځواکونو مخه ډب کړي تر څو هغو ګواښونو ته چې د حکومت ضد عناصرو لخوا رامنځ ته کيږي په مؤثر ډول ځواب ووايي. ناکافي استخدام ، د پوځ د ليکو څخه د کميدو لوړې کچې د ځواکونو د پايښت په وړاندې جدي ننګونې را منځ ته کړي. د ۲۰۱۶ کال په جنوري کې، د ۲۰۱۶ کال د اګسټ د مياشتې د اټکل شويو کچو لپاره د افغان ملي پوځ د سرتيرو شمير ۸۸ سلنې او د افغان ملي پوليسو د پرسونلو شمير ۷۷ سلنې ته رسيدلی. اوسنی کچې ته په کتو سره، استخدام نه شي کولای هغه زيانونه کوم چې د غيرحاضري او تلفاتو ، په ځانګړي توګه د افغان ملي پوځ او افغان ملي پوليسو په دننه کې را منځ ته کيږي، جبران کړي.

۱۶. د راپور ورکولو د دورې په جريان کې ، د طالبانو فعاليتونو په سرعت سره، په ځانګړي توګه په هلمند ولايت کې دوام درلود. د ۲۰۱۵ کال په دسمبر او د ۲۰۱۶ کال په جنوري کې ، طالبانو د ګرمسېر ، خانشين ، مارجې ، سنګين او واشير ولسواليو په ګډون، د دې ولايت د ستراتيژيکو مهمو برخو د نيولو په هدف خپلې هڅې متمرکزې کړې ، چې کنټرول يې د ترياکو قاچاق او د وسلو اکمالاتو ته لاسرسی اسانوي. د افغان ملي دفاعي او امنيتي ځواکونو ترمنځ د ناکافي مشرتابه ، ټيټ مورال او پراخ ترک خدمت د راپورونو په تعقيب ، حکومت په سيمه کې د افغان ملي پوځ د واحدونو د بيارغونې لپاره هلې ځلې وکړې. سربيره

پردې ، د نړیوالو پوځي ځواکونو محدود شمیر پرسونل د هلمند په ولایت کې بیا ځای پر ځای شوي ترڅو د ځواکونو د هڅو څخه ملاتړ وکړي څو وکولای شي د طالبانو په لاس د ولایت د مرکز لشکرګاه د نیولو څخه مخه ونیسي. د فبروري د میاشتې په دویمه نیمایي کې ، د موسی کلا او نوزاد ولسوالیو څخه د موقتي مودې لپاره ځواکونه په شا شول تر څو د هلمند ولایت د لومړیتوب په نورو سیمو کې امنیتي ځواکونه ځای پر ځای او تقویه کړي. د جنوري په ۱۹ ، ولسمشر غني د ملي شورا د ولسي جرګې غړی ، عبدالجبار قهرمان، د هلمند ولایت په استازیتوب ، ، په هلمند کې د ځواکونو د همغږي د عملیاتو لپاره د ځانګړي استازي په توګه وټاکه.

۱۷. افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو په بغلان ، کندز او ننګرهار ولایتونو کې تصفیوي عملیات هم ترسره کړي. د دې عملیاتو سره ، امنیت په شمال ختیځ سیمه کې ناکراره پاتې شوی ، په ځانګړي توګه د کندز په سیمه کې ، چیرې چې دولت ضد عناصرو کندز ښار ته نږدې خپل شتون ساتلی. د فبروري په ۱۶، د کندز هوایي ډګر ته نږدې د ملګرو ملتونو یوه الوتکه تر ډزو لاندې راغله چې په نتیجه کې یې لږ زیان ولید. له هغه وروسته چې ادعا وشوه طالبانو د ۲۰۱۵ کال د سپټمبر په ۷ نیټه د ځایي مشرانو او حکومت ترمنځ موافقه شوې اوربند مات کړ، ځواکونو د بغلان ولایت په ډنډ غوري ، پلخمري او بغلان جدید ولسوالیو کې پوځي عملیات پیل کړل. ملګرو ملتونو د راپورونو ترلاسه کولو ته ادامه ورکړه، دغه راپورونه په ختیځه سیمه کې د دولت پلوه اضافي ملیشه یې ډلو رامنځ ته کولو ته اشاره کوي. په کابل او سیمه ییزه کچه مخکښو سیاسي څیرو پر حکومت فشار زیات کړ تر څو د ځواکونو په ملاتړ د ځایي ملیشو د روزنې او تجهیز په موخه د هغوي له وړاندیزونو څخه ملاتړ وکړي.

۱۸. د حکومتي ځواکونو او دولت ضد عناصرو تر منځ د شخړې سربیره ، د ازبکستان د اسلامي غورځنګ او د عراق او شام اسلامي دولت - خراسان ولایت – داعش په شمول، په افغان خاوره کې د نورو وسله والو ډلو تر منځ تاوتریخوالی پیښ شوی . د طالبانو د پخوانیو غړو څخه تشکیل شوی ، د عراق او شام اسلامي دولت - خراسان ولایت – داعش، د ننګرهار ولایت په اچین ، ده بالا او چپرهار ولسوالیو کې محدود پاتې شوی. د افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو وروستي عملیات ، چې ملاتړ یې د نړیوالو پوځي ځواکونو لخوا کیږي ، او همداراز د طالبانو بریدونه د دې لامل شوي چې داعش د پاکستان پولې ته نږدې په لیرې پرتو ځایونو کې ځای پر ځای شي.

۱۹. د ۲۰۱۵ کال د ډسمبر د لومړۍ او د ۲۰۱۶ کال د فبروري د ۱۵ نیټو تر منځ، ملګرو ملتونو د هیواد په کچه د امنیت په تړاو ټولټال ۴۰۱۴ پیښې مستندې کړي دي. دا د ۲۰۱۴ او ۲۰۱۵ کال د ورته مودو په پرتله ۳. ۸ سلنه ښیي، که څه هم چې یادونه شوې چې د ۲۰۰۱ کال راهیسې د دغو میاشتو لپاره د ۲۰۱۵ په جنوري او فبروري میاشتو کې تر ټولو لوړ ارقام ثبت شوې. د تیرو تمایلاتو سره په مطابقت کې ، وسله والې نښتې په ۴. ۵۷ سلنه د ډیری امنیتي پیښو لامل دي، چې په ۲. ۱۹ سلنه وربسې په لاس جوړ ځای پر ځای شوي چاودیدونکي توکي راځي. هدفي وژنې په لوړه کچه دوام لري. د ۲۰۱۵کال د ډسمبر له لومړۍ څخه د ۲۰۱۶ کال د فبروري تر ۱۵ نیټې پورې، د ناکامو هڅو په شمول، د ترور ۱۵۴ پیښې مستندې شوې، چې دا د

۲۰۱۴ او ۲۰۱۵ کلونو د ورته مودې په برتله ۲۷ کموالی ښيي. د راپور ورکولو د مودې پر مهال، د ۲۰۱۴ او ۲۰۱۵ کلونو د ورته مودي د ۳۰ ځانمرګې بريدونو په پرتله، ۲۰ ځانمرګي بريدونه ثبت شوې.

۲۰. د راپور ورکولو د دورې په جريان کې ، ثبت شوې ۱۲ قضيې په مستقيم ډول يا په غير مستقيم ډول د ملګرو ملتونو پر وړاندې ترسره شوې. پدې کې د ډارونې درې قضيې ، د په لاس جوړ چاوديدونکي توکو په تړاو يوه پيښه او اته اړونده جرمي پيښې شاملې وې ، چې په عمده توګه يې د داخلي کارکونکو غړي اغيزمن کړې. د فبروري په ۳ ، د ننګرهار ولايت د بهسودو په ولسوالۍ کې ، د ملګرو ملتونو پر کاروان په لاس جوړ چاوديدونکي توکي وچاوديد چې په نتيجه کې يې د ديپلوماتيک محافظت د خدمت دوه داخلي افغان افسران ټپيان شول.

### ج. سيمه ييزه همکاري

۲۱. افغانستان او پاکستان د خپلو اړيکو د پياوړي کولو لپاره هڅې کړي. د ډسمبر پر ۹، ولسمشر غني او د پاکستان لومړي وزير نواز شريف په استانبول کې په ګډه د اسيا زړه د وزيرانو سرمشريزې کنفرانس پرانيست، په کوم کې چې په لوړه کچه د سيمې د هيوادونو ګډون درلود. د کنفرانس په پريکړه ليک کې ګډونوالو هيوادونو له امنيتي ګواښونو سره پر مبارزې، د اقتصادي نښلون پر دودولو او د باور جوړونې اقداماتو پر غښتلي کولو ټينګار کاوه، له طالبانو او وسله والو مخالفو ډلو يې غوښتنه وکړه چې له افغان دولت سره د سولې خبرې اترې پيل کړي او د پولو د امنيت او له تروريزم سره د مبارزې د يوې همغږې شوې سيمه ييزې تګلارې غوښتنه يې کوله. هندوستان ومنله چې د ۲۰۱۶ کال کنفرانس په ګډه رهبري کړي. په اسلام اباد کې، افغانستان او پاکستان د پولو د امنيت، استخباراتي معلوماتو د شريکولو او له تروريزم سره د مبارزې په برخو کې د همکارۍ د زياتولو ژمنه وکړه. د دغو تحولاتو په تعقيب، د ډسمبر پر ۲۷ او د فبروري پر ۵ د پاکستان د پوځ مشر جنرال راحيل شريف او د افغانستان د ملي امنيت د رياست د سرپرست مسعود اندرابي له کابل او اسلام اباد څخه اړوندې ليدنې ترسره شوې. د دواړو لورو له خوا د نظامي ځانګړې شميرې (hotline) پر جوړولو هوکړه وکړه او د استخباراتي معلوماتو د شريکولو او له تروريزم سره د مبارزې د تدابيرو په اړه اخبرې اترې ترسره کړې.

۲۲. افغانستان د سيمې له هيوادونو سره خپل ګډون جاري ساتلی. د ډسمبر پر ۲۵، د هندوستان لومړي وزير نريندرا مودي له کابل څخه ليدنه وکړه، چيرې چې هغه او ولسمشر غني په ګډه د ملي شورا نوې ودانۍ پرانيسته، او د سيمه ييز نښلون د پراختيا په اړه يې خبرې اترې ترسره کړې. د جنوري له ۳۱ د فبروري تر ۴ پورې له هندوستان څخه د ليدنې پر مهال، اجرائيه رييس عبد الله عبد الله هم له لومړي وزير مودي سره وليدل. د جنوري د ۴ او ۶ ترمنځ، اجرائيه رييس عبد الله له ايران اسلامي جمهوريت څخه ليدنه وکړه، چې له ستر مذهبي مشره علي خامنه يي او ولسمشر حسن روحاني سره يې وليدل او د چاه بهار بندر ته يې سفر وکړ. په يوه ګډ پريکړه ليک کې، د خواف-هرات د اورګاډي پټلۍ او د افغانستان- هندوستان-ايران ترمنځ پر پلان شوي درې اړخيز ترانزيت دهليز له ټينګار سره، افغانستان او ايران د نښلون د زياتولو ژمنه وکړه. په پريکړه ليک کې د افغانانو په مشرۍ د سولې پروسې او دغه راز د دوه اړخيزې همکارۍ د تړون په اړه د پرمختګ د چټکولو او هريرود سيند د پولې

د داړو غاړو اوبو د موضوعاتو د څېړنې لپاره د ګډې کاري ډلې د جوړولو لپاره د تهران د ملاتړ بیا یادونه وشوه. د فبروري پر ۳ په برلین کې، افغانستان د افغانستان په اړه د تماس نړیوال ګروپ په اوولسمه ناسته کې ګډون وکړ، کومه چې پر امنیتي وضعیت او هغې اړتیا متمرکزه وه، چې د نړیوال ملاتړ پایښت او شتون ډاډمن کړي.

۲۳.	د راپور ورکولو په موده کې، افغانستان او د سیمې نورو هیوادونو د سوداګرۍ، ترانسپورټ او انرژۍ د نښلون لپاره د خپلو ژمنو په ډاګه کول جاري ساتلي. د ډسمبر پر ۱۳، ترکمنستان د ترکمنستان-افغانستان-پاکستان-هندوستان د ګازو نل لیکې (تاپي) د پرانستې د مخکښو مراسمو کوربه و، چې ولسمشر غني هم په کې ګډون کړی و. ولسمشر د ډسمبر پر ۲۲ له ازربایجان او ډسمبر پر ۲۳ او ۲۴ له ترکیې څخه لیدنه وکړه څو د دوه اړخیزه اقتصادي همکارۍ او هغو ترانسپورټي لارو ګودرو په اړه په خبرو اترو کې ګډون وکړي چې افغانستان له اروپا سره نښلوي. د ډسمبر پر ۳۰ په پاکستان کې، د چین-پاکستان د اقتصادي دهلیز پر لویدیځه لار کار پیل شو، کوم چې د افغانستان د کندهار ولایت له سمندر سره نښلوي. د شانګهاي د همکارۍ سازمان د دولتونو د مشرانو د شورا ناسته د ډسمبر پر ۱۴ او ۱۵ د چین په ژین ژو کې ترسره شوه، په کومه کې چې اجرائیه رییس عبد الله هم ګډون کړی و، چیرې چې د سیمه ییزې اقتصادي همکارۍ او دغه راز له تروریزم سره د مبارزې د تدابیرو د زیاتولو په اړه خبرې اترې ترسره شوې. د ګډ امنیت د تړون سازمان د ګډ امنیت شورا په ناسته کې چې د ډسمبر پر ۲۱ په مسکو کې ترسره شوه، غړو هیوادونو د یوه پریکړه لیک په تصویبولو سره، د افغانستان له خوا "د تروریستانو زیاتیدونکی ګواښ" په ډاګه کړ. د روسیې فدراتیف د ګډ امنیت د تړون سازمان او افغانستان ترمنځ د همکارۍ د پیاوړي کولو اړتیا په ډاګه کړه، کوم څه چې له تروریزم سره د مبارزې لپاره د یوې پراخې سیمه ییزې همکارۍ لپاره د افغانستان غوښتنې منعکسوي. د جنوري پر ۱۳، تاجکستان په کندز او فیض اباد ښارونو کې د امنیتي اندیښنو په ډاګه کولو له امله په رسمي ډول خپل قونسلي خدمتونه وځنډول.

**دریېم: بشري حقونه**

۲۴.	د ۲۰۱۶ کال د فبروري پر ۱۴، د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوي (یوناما) په افغانستان کې په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو د ساتنې په اړه د ۲۰۱۵ کال خپل راپور خپور کړ. دغه راپور د ۲۰۱۵ کال د جنوري د ۱ او ډسمبر د ۳۱ ترمنځ ۱۱۰۰۲ ملکي تلفات (۳۵۴۵ مړه او ۷۴۵۷ ټپي) مستند کړي. دا له ۲۰۰۹ کال راهیسې د یوناما له خوا د ثبت شویو ملکي تلفاتو تر ټولو لوړ شمیر وړاندې کوي. ماموریت په ۲۰۱۵ کال کې د رامنځ ته شویو ملکي تلفاتو ۶۲ سلنه دولت ضد عناصرو او ۱۷ سلنه دولت پلوه ځواکونو (۱۴ سلنه افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو، ۲ سلنه نړیوالو نظامي ځواکونو او ۱ سلنه دولت پلوه وسله والو ډلو) ته منسوب کړي. راپور دغه راز د اکتوبر پر ۳ د امریکا د متحده ایالاتو له خوا په کندز ښار کې د بې پولې ډاکټرانو پر روغتون هغه برید مستند کړی، کوم چې د ۴۹ طبي پرسونلو په ګډون ۸۵ ملکي تلفات (۴۲ مړه او ۴۳ ټپي) رامنځ ته کړل. د ټولو ملکي تلفاتو ۱۷ سلنه د افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو او د دولت ضد عناصرو ترمنځ د ډزو په تبادله کې رامنځ شوي کوم چې یوه مشخص لوري ته نه شي منسوب کیدای. څلور سلنه ملکي تلفات د د جګړې څخه پاتې شونو چاودیدونکو توکو له امله پیښ شوي چې کوم مشخص لوری ته نه دي منسوب شوي. د دولت پلوه ځواکونو او دولت

ضد عناصرو ترمنځ ځمکنۍ نښتې د ملکي تلفاتو مخکښ لامل دی، چې له امله یې ۴۱۳۷ ملکي تلفات (۱۱۱۶ مړه او ۳۰۲۱ ټپي) رامنځ ته شوي، په تعقیب یې د لاس جوړ چاودیدونکي آلې، ځانمرګي بریدونه او هدفي او عمدي وژنې د ولسي مرګ ژوبلې مخکښ لاملونه ګڼل کیږي.

۲۵. د ۲۰۱۵ د ډسمبر او د ۲۰۱۶ جنوري د مودې په جریان کې د لوړې کچې بریدونه رامنځ ته شول چې تر ډیره یې ولسي وګړي په نښه کړي وو. د ډسمبر پر ۸ او ۹ په کندهار هوایي ډګر کې په یوه برید کې، طالبانو په قصدي ډول ملکي میشتې سیمې په نښه کړې، چې له امله یې د څلورو ماشومانو په ګډون ۳۸ ملکیان ووژل شول او ۱۹ نور ټپي شول. د ډسمبر پر ۱۱، په کابل ښار کې د اسپانیا سفارت ته څېرمه په یوه برید کې درې ولسي وګړي ووژل شول او اته نور ټپي شول. د جنوري پر ۱، طالبانو په کابل کې پر یوه ریستوارنت ډله ییز برید ترسره کړ چې ۲ ملکیان یې ووژل او د پنځو ښځو او څلور ماشومانو په ګډون ۱۸ نور یې ټپي کړل. د جنوري پر ۳، دولت ضد عناصرو د بلخ ولایت په مزار شریف ښار کې د هندوستان پر قونسلګرۍ برید وکړ، چې درې ملکي وګړي په کې ټپي شول. د جنوري پر ۴، د طالبانو یوه ځانمرګي بریدګر له چاودیدونکو توکو یوه ډکه لارۍ په کابل ښار کې د نړیوالو نظامي ځواکونو یوې هدېې ته څېرمه چې په استوګنیزه سیمه یې کې موقعیت درلود، وچاوه. د دغه برید په پایله کې ۳ ملکي وګړي ووژل شول او د نهو ماشومانو، اوو ښځو او د ملګرو ملتونو د څلورو کارمندانو په ګډون ۳۸ نور ټپي کړل. د جنوري پر ۱۳، د اسلامي دولت- خراسان ولایت ډلې د ننګرهار ولایت په جلال اباد ښار کې د پاکستان پر قونسلګرۍ د ډله ییز برید مسوولیت پر غاړه واخیست، کوم چې ۶ ولسي وګړي ووژل او ۱۰ نوري ټپي ټپي کړل. د جنوري پر ۱۷، یوه ځانمرګي بریدګر په ځان پورې تړلي چاودیدونکي توکي په جلال اباد ښار کې د قومي مشرانو په یوه غونډه کې وچول، چې له امله یې ۱۳ ملکي وګړي ووژل شول او ۱۴ نور ټپي شول.

۲۶. د ۲۰۱۶ کال په جنوري کې، دولت ضد عناصرو د ژورنالستانو د رسنیو د نورو کارمندانو پر وړاندې دوه عمدي بریدونه ترسره کړي. د جنوري پر ۲۰، د طالبانو یوه ځانمرګي بریدګر په یوه موټر کې ځای پر ځای شوي چاودیدونکي توکي د طلوع رسنیزې ادارې د کارمندانو د ترانسپورټ پر یوه مېني بس ډولي موټر وچول، چې د طلوع د اوو کارمندانو په ګډون یې ۸ ولسي وګړي ووژل او ۲۴ نور یې ټپي کړل. تر دغه برید وروسته په اکتوبر میاشت کې د طالبانو له خوا یو ګواښ خپور شو چې د طلوع او نورو افغان خبري رسنیو په وړاندې یې کړی و او هغه یې د نظامي اهدافو په څیر په ډاګه کړې وې. د جنوري پر ۲۹، یو ژورنالیست چې د ملي راډیو تلویزیون لپاره یې په جلال اباد ښار کې کار کاوه د دولت ضد عناصرو له خوا ووژل شو. د جنوري پر ۳۱، ولسمشر غني د یوې اعلامیې په خپرولو سره د رسنیو د بیان ازادۍ پر خپله ژمنه بیا ټینګار وکړ او اړوندو ادارو ته یې لارښوونه وکړه چې هغه قضیې وڅیړي په کومو کې چې ژورنالستان له ګواښونو یا تاوتریخوالي سره مخ شوي.

۲۷. ماشومان لا اوس هم له جګړې څخه په بې تناسب ډول کړیږي، چې په افغانستان کې د راپور ورکولو په موده کې د ټولو ملکي تلفاتو یو په دریمه برخه جوړوي. د ۲۰۱۵ کال د نومبر د ۱ او د ۲۰۱۶ کال د جنوري د ۳۱ ترمنځ، د څارنې او راپور ورکونې هیوادني کاري ځواک ۲۶۴ داسې پېښې تصدیق کړي چې له امله یې د ماشومانو ۵۶۲ تلفات (۱۴۴ مړه او ۴۱۸ ټپي) رامنځ ته شوي. د جګړې د ښکیلو خواوو ترمنځ ځمکنۍ نښتې د ماشومانو د تر ټولو لوړ شمیر تلفاتو لامل دي، چې له امله یې

۲۶۲ تلفات اوښتي، او له جګړې څخه پاتې شوني چاودیدونکي توکي د ماشومانو د ۱۵۸ تلفاتو لامل شوي، چې د ماشومانو د تلفاتو د دویم لوړ شمیر ګڼل کیږي. د ډسمبر پر ۱ نېټه په بغلان ولایت کې په یوه پېښه کې، له جګړې څخه د چاودیدونکو توکو د چاودنې له امله ۶ ماشومان او یو بالغ شخص ووژل شو او ۱۱ نور ماشومان ټپیان شول. ډله ییز او ځانمرګي بریدونه د ماشومانو د مرګ ژوبلې درېیم مخکښ لامل و، چې ۴۷ تلفات یې اړولي او په تعقیب یې د لاس جوړ د چاودیدونکو توکو آلې دي چې د ماشومانو د ۳۱ تلفاتو لامل شوي. د راپور ورکولو په موده کې د دولت ضد عناصرو له خوا د ماشومانو د ګمارنې راپورونه ترلاسه شوي. د ۲۰۱۵ کال په ډسمبر کې، د څارنې او راپور ورکونې هیوادنې کاري ځواک د ګمارنې په دوو جلا جلا پېښو کې تصدیق کړې چې دولت ضد عناصرو په بدخشان ولایت کې ۱۳ ماشومان ګمارلي څو د هغوي په لیکو کې کار وکړي. دا په ۲۰۱۵ کال کې د ماشومانو د ګمارنې د ټولو تصدیق شویو قضیو یو پر درېیمه برخه وړاندې کوي.

۲۸. دولت د هغو "پیروي/تطابق لار نقشو(road map towards compliance)" پلي کول جاري ساتلي چې موخه يې د عمل پلان د تطبیق چټکول و، څو د افغان ملي امنیتي ځواکونو په لیکو کې د ماشومانو د ګمارنې مخه ونیسي، کوم چې له ملګرو ملتونو سره په ۲۰۱۱ کال کې لاسلیک شوی و. د ډسمبر پر ۲۱، د ماشومانو او وسله والې جګړې په اړه د دولت په مشرۍ د رهبرۍ بین الوزارتي کمیټې د عمر د ارزونې ملي لارښوونې تصویب کړي، څو د افغان ملي امنیتي ځواکونو په لیکو کې د ماشومانو د ګمارنې مخه ونیسي او هغه ته رسیدنه وکړي، کوم څه چې تر عمل پلان لاندې یو مهم ګام ګڼل کیږي. د ډسمبر پر ۲۲ او د فبروري پر ۸، د کورنیو چارو وزارت په ترتیب سره په مزار شریف او جلال اباد کې د ماشومانو د ساتنې خپل پنځم او شپږم واحدونه پرانیستل، چې لومړي څلور یې په ۲۰۱۱ کال کې تاسیس شوي وو. د فبروري له ۱۳ تر ۱۷ پورې له افغانستان څخه د لیدنې پر مهال، د ماشومانو او جګړې لپاره زما ځانګړي استازي له ولسمشر غني او اجرائیه رییس عبد الله سره ولیدل چې د ۲۰۱۱ کال د عمل پلان د چټک شوي تطبیق او دغه راز د ښوونځیو او روغتونونو د ملکي ماهیت د ساتنې لپاره یې مدافعه او ملاتړ وکړ.

۲۹. دولت د ملګرو ملتونو د امنیت شورا د ۱۳۲۵ (۲۰۰۰) پریکړه لیک لپاره د عمل د ملي پلان د تطبیق، څارنې او ارزونې لپاره پلانونه نهایي کړي، څو په ولایتي کچه تطبیق کوونکې اداري د جون تر نیمه یې پورې له پلان سره اشنا کړي، کوم چې د دوه اړخیزې حساب ورکوونې د چوکاټ له لارې تر ځان بسیانې لاندې د دولت یوه لنډه مهاله ژمنه ګڼل کیږي. په ۲۰۱۵ کال کې، ملګرو ملتونو د ښځو په وړاندې د تبعیض د ټولو ډولونو د له منځه وړلو د کنوانسیوان او د امنیت شورا د ۱۳۲۵ (۲۰۰۰) پریکړه لیک په اړه ۱۵۲۷ وګړي (د ۹۰۱ ښځو په ګډون) روزلي، چې له زده کوونکو، ځایي مشرانو، ولایتي چارواکو او د ځوانانو د ګروپونو له غړو جوړ وو. د جنوري پر ۱۶، د دغه کنوانسیون په اړه د حکومت کاري ځواک چې د ملګرو ملتونو له خوا یې ملاتړ کیږي، د ۲۰۱۳ کا په جولای کې د خپل مهالني راپور له خپریدو راهیسې د ترسره شویو اقداماتو په اړه د بهرنیو چارو وزارت ته خپل موقت راپور وړاندې کړ.

۳۰. دولت د میرمنو لپاره د حمایتي خدمتونو د پیاوړي کولو لپاره ګامونه پورته کړي. د جنوري پر ۳۱، ولسمشر غني د تاوتریخوالي د ښځینه قربانیانو د روغتیایي درملنې لپاره د بیړنۍ مرستې صندوق پیل کړ، کوم چې د ښځو چارو وزارت له خوا

طرح شوی. د جنوري پر ۱۸، دولت راپور ورکړ چې د ۱۳۹۵ لپاره په بودجه کې یې د ښځو په ضد د تاوتریخوالي د منع د حمایت د شپږو نورو واحدونو لپاره بودجه شامله کړې، چې د دغو مرکزونو په جوړولو سره به د دغو مرکزونو ټولټال شمېر ۲۶ ته لوړ شي. په ورته وخت کې، ملګرو ملتونو د خدمت برابروونکو او د پالیسي هغه ډیالوګ سره خپل ملاتړ جاري ساتلی چې موخه یې د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي او توپیر له منځه وړل و. د ډسمبر پر ۹، ملګرو ملتونو د جنډر اړتیاوو ته د ځواب ویونکي قانون د اصلاحاتو په اړه په کابل کې د ترسره شوي کنفرانس لپاره تخنیکي ملاتړ برابر کړ. د ډسمبر تر ۳۱ پورې، په افغانستان کې د ښځو د حمایت ۲۳ مرکزونو فعالیت کاوه، چې دغه شمېر په ۲۰۱۴ کې ۲۴ و. په دغو مرکزونو کې د کورني تاوتریخوالي قربانیانو ته حمایت، روغتیایي پاملرنه، حقوقي مرسته، منځګړیتوب او داسې نور خدمتونه وړاندې کیږي. د دغو مرکزونو له ۱۱ هغو سره یې د ملګرو ملتونو له خوا په نهو ولایتونو کې مرسته کیږي.

۳۱.  د جنډر پر بنسټ د تاوتریخوالي پر ضد د ۱۶ ورځني کمپاین پرمهال، چې د نومبر له ۲۵ د ډسمبر تر ۱۰ ترسره شو، ملګرو ملتونو له ملي ادارو او مدني ټولنې سره په همکارۍ په ټول هیواد کې د پوهاوي له فعالیتونو سره مرسته کړې. په دغو مراسمو کې راډیویي پروګرامونه، ورکشاپونه د ازمویني سیالۍ شاملې وې، چې موخه یې د کلي د مشرانو، زده کوونکو، دولتي چارواکو او مذهبي/دیني مشرانو بسیجول و، څو د ښځو او نجونو په ضد تاوتریخوالي ته رسیدګي وکړي.

۳۲.  د مخه نیوونکي توقیف په اړه د ډسمبر پر ۲ د ولسمشر د تقنیني فرمان تر خپریدو وروسته، چې احکام یې د مدني او سیاسي حقونو له نړیوال کنوانسیون چې افغانستان یې غړیتوب لري سره په ټکر کې دي، ملګرو ملتونو د دغه فرمان حقوقي شننه جاري ساتلې او د هغه د بیاکتنې لپاره یې مدافعه کړې څو په دغه فرمان کې د افغانستان تر اساسي قانون او تر نړیوال قانون لاندې د هیواد د مسوولیتونو اړین طرز العملي تضمینونه شامل شي، څو د خپل سري توقیف د توجیه لپاره د نامناسبو معلوماتو کارونه منع کړي، د رواني استینافي بیا کتنې لپاره زمینه برابره او د توقیفیانو د شکنجې او له هغوي سره د ناوړه چلند خطر راکم کړي. ملګرو ملتونو د محابسو له عمومي ریاست سره تخنیکي مرسته کړې، څو دا یقیني کړي چې د محابسو او توقیف خونو کارمندان، ساتونکي، او روغتیایي کارمندان د هغو ټپونو یا فیزیکي نښو نښانو په اړه راپور ورکوي، چې د بندیانو پر بدن موندل کیږي او کیدای شي په معقول ډول شکنجې یا نا انساني چلند ته منسوب کړای شي. ملګرو ملتونو دغه راز د معیاري عملیاتي طرز العملونو په طرح کولو کې مرسته کړې، څو یقیني کړې چې ټول اړوند معلومات کیدای شي د شکنجې د منع د ملي پلان او نافذه جنایي قوانینو د احکامو سره په سمون کې د توقیف، څیړنې او ارزونې ادارو د پاملرنې وړ ګرځي.

**څلورم: د کابل پروسې تطبیق او د پرمختیایي مرستې همغږي**

۳۳.  په ۲۰۱۴ کال کې تر امنیتي، سیاسي او اقتصادي لیږد وروسته، اقتصادي وده لا اوس هم سوکه ده. په جنوري کې، د پیسو نړیوال صندوق اعلان کړه، چې د ۲۰۱۵ لپاره د دغې ادارې د ودې وړاندوینه د دویم ځل لپاره ۱.۵ سلنې ته بیا ټیټه کړې، کوم څه چې د اقتصادي باور د پیاوړي کولو لپاره د بیړنیو او رښو سمونونو اړتیا په ډاګه کوي. د افغانستان د ژوندانه د وضعیت څیړنه چې د احصائیو د مرکزي ادارې له خوا د ۲۰۱۵ په ډسمبر کې خپره شوه خبر ورکوي چې د بې وزلۍ کچه په ۲۰۱۱ او ۲۰۱۲ کې له ۳۶ سلنې څخه په ۲۰۱۳ او ۲۰۱۴ کې ۳۹.۱ سلنې ته لوړه شوې، کوم څه چې د افغانستان پر اقتصاد د لیږد نورې

زيانمنوونکې اغېزې په ډاګه کوي. خو له دې سره سره، د اقتصادي خرابوالي د کمولو لپاره د هڅوونکو نوښتونو د تطبيق په اعلانولو سره، چې د ولسمشر غني له خوا د نومبر پر ۱۷ اعلان شول، ګامونه پورته شوي. د ډسمبر پر ۱۷ په نيروبي کې، د سوداګرۍ د نړيوالې ادارې د وزيرانو سر مشريزې د افغانستان غړيتوب تاييد کړ، چې د ۲۰۱۶ کال د جون تر ۳۰ پورې د دغه هيواد په تصديق پورې مشروط دی.

۳۴. د پيسو د نړيوال صندوق او د افغان دولت ترمنځ د کارمند له خوا د روان څارل شوي پروګرام( staff-monitored program) په برخه کې، کوم چې د پلان له مخې بايد په فبروري کې پای ته رسيدلی وای، د ترلاسه شوي پرمختګ او د نومورې ادارې د ګډون لپاره د نورو انتخابونو په اړه مباحثو دوام درلود. د راپورونو له مخې د کورنيو عوايدو د اهدافو په ګډون د پروګرام ټول کمي اهداف له پلان سره سم پر مخ روان دي، له دې سره سره چې اهداف هغو کچو ته راټيټ کړای شوي وو، څو د ودې بيا کټل شوې وړاندوينې او په عوايدو کې د نوو تدابيرو په تطبيق کې ځنډونې منعکسې کړي. د پيسو د نړيوال صندوق او مالې وزارت ترمنځ د ۲۰۱۶ کال د عايد د هغو اهدافو په اړه چې د ۲۰۱۶ کال په بودجه کې شامل کړای شوي، خبرو اترو دوام درلود. نومورې ادارې د پام وړ مالي خطرونو سره د بانکي سيستم د کمزورتيا په اړه د دوامدارو انديښنو په ګډون، د ساختاري اصلاحاتو د معيارونو په اړه د مخلوط پرمختګ خبر ورکړی.

۳۵. د جنوري پر ۱۸، دولت د هغو ژمنو په اړه د پرمختګ راپور خپور کړ چې د دوه اړخيزې حساب ورکونې د چوکاټ له لارې د ځان بسياني په ځنډو کې کړې وې، چې تر ۲۰۱۶ پورې لنډ مهالي کړنې وضع کوي. دولت او پرمختيايي همکارانو د وزيرانو د کچې پرمختيايي کنفرانس چې ټاکل شوې د اکتوبر پر ۴ او ۵ په بروکسل کې ترسره شي، ته د تياريو په درشل کې د لومړيتوب لرونکو اصلاحاتو په اړه د ترسره شوي پرمختګ په باب خپلې مباحثې جاري ساتلي. د امنيتي سکتور د لګښت پر مالي اغيز او له پرمختيايي پايلو سره د مرستې پر زياتولو له تمرکز سره، د ناټو د سرمشريزې چې ټاکل شوې د جولای پر ۸ او ۹ په وارسا کې ترسره شي او د بروکسل د کنفرانس د تړاو په اړه خبرې اترې پيل شوې. په جنوري کې، دولت د نوې ملي پرمختيايي ستراتيژي طرح کول پيل کړي، چې ټاکل شوې د افغانستان د ملي پرمختيايي ستراتيژي (۲۰۰۸-۲۰۱۳) ځای ناستې شي.

۳۶. دولت د افغان ملي پوليسو ترمنځ د ولسي پوليسو د مشق د معرفي لپاره خپلې هڅې جاري ساتلي. د ۲۰۱۵ په ډسمبر کې د کورنيو چارو وزارت په ګڼ شمير ولايتونو کې د ۱۲ نوي واحدونه جوړ کړي، چې په دې سره د دغو واحدونو عمومي شمير ۲۰ ته لوړ شوی، چې لومړی هغه يې د ۲۰۱۳ په ډسمبر کې تاسيس شوی و. د ۲۰۱۵ د ډسمبر پر ۲۸، وزارت د ولسي پوليسو د سلا مشورو لپاره لارښوونې تاييد کړي، کوم چې د مسلکي پراختيا هيئت ته وسپارل شوې څو د پوليسو د روزنې د ملي مرکز په تعليمي نصاب کې شامل کړای شي.

۳۷. دولت د مرکزي او ځايي ادارو ترمنځ د اړيکو پياوړي کول جاري ساتلي، څو له يوې خوا د اړوندو وزارتونو او له بلې خوا د ولايتي او ولسواليو په کچه د ادارو ترمنځ همغږي ښه کړي، څو د خدمتونو وړاندې کول ښه کړای شي. ولسمشر غني د واليانو ګروپونه راغوښتي چې د کابينې په ځانګړو ناستو کې ګډون وکړي، څو په خپلو اړوند ولايتونو کې د امنيت، حکومتولۍ او پراختيا په اړه خبرې اترې ترسره کړي. له کابينې او د ملي امنيت له شورا سره د واليانو دريېم او څلورم دور ناستو په ترتيب سره

د جنوري پر ۶ او ۲۷ ترسره شوې. په ورته وخت کې، د سیمه ییزو ارګانونو د خپلواکې ادارې د ۲۰۱۶ کال بودجه د ۲۰۱۵ کال هغې په پرتله ۲۰ سلنه ۳۹ میلیونه امریکایي ډالرو ته لوړه شوه، چې تر ډیره د ولایتي ادارو د لوژیستکي اړتیاوو او د زیربنایي پروژو د ملاتړ لپاره ځانګړې شوې. د کال په اوږدو کې د اړوندو وزارتونو له خوا د تایید شویو ۱۰۰ ورځنیو پلانونو په ګډون، د دولت په نورو کلیدي نوښتونو کې پرمختګ محدود پاتې شوی. د هیواد په ګڼو ولسوالیو کې د ناوړه امنیتي وضعیت له امله دولتي مامورین لا اوس هم د لاس رسي له ننګونو سره مخ دي، کوم چې د خدمتونو پر وړاندې کولو منفي اغېز درلود.

۳۸. د راپور ورکولو په موده کې، د تفتیش او له اداري فساد سره د مبارزې عالي ادارې د اساسي قانون او له اداري فساد سره د مبارزې د ستراتیژۍ د تطبیق د څار د قانون له احکامو سره سم، د لوړ پوړو دولتي چارواکو د شتمنیو ثبت بشپړ کړ. د تفتیش عالي ادارې دغه راز د ۱۶ چارواکو د ثبت شویو شتمنیو د ارزونې پروسه پیل کړې. له اداري فساد سره د مبارزې د څارنې او ارزونې د ګډې خپلواکې کمیټې نړیوالو غړو د فبروري پر ۲۶ له افغانستان څخه خپله دوه اونیزه لیدنه پای ته ورسوله، د کومې په ترڅ کې چې د کمیټې غړو له لوړ پوړو دولتي چارواکو، همکارو ډونرانو او د مدني ټولنې له استازو سره وکتل څو له اداري فساد سره د مبارزې تدابیر وارزوي. په جنوري میاشت کې، بلخ، هرات او کندهار ولایتونو له اداري فساد سره د مبارزې کاري ګروپونه جوړ کړل چې له ولایتي ادارې، ولایتي شورا او د مدني ټولنې له استازو تشکیل شوي، څو د اداري فساد په وړاندې د زیانمنتوب له ارزونو او د کمېټې له هغو سپارښتونو سره مرسته وکړي چې موخه یې په هیواد کې د اداري فساد ستونزې ته رسیدګي ده. د فبروري پر ۱۶، ولسمشر غني یو حقوقي سلاکار له خپلې دندې هغه مهال ګوښه کړ، څوک چې د تورونو له مخې د ښاري پراختیا د وازرت او یوه شخص چې د کابل بانک په قضیه کې د ښکیلتیا له امله محاکمه شوی و، ترمنځ د ملکیت د یوې معاملې په تسهیلونه کې ښکیل و.

۳۹. دولت د عوایدو د راغونډولو په برخه کې د ښه والی راپور ورکړی. د جنوري پر ۱۸، د دې خبر ورکړل شو چې د ۲۰۱۵ کال په فبروري کې د تدارکاتو د ملي کمیسیون له تاسیس راهیسې په تدارکاتي قراردادونو کې ۱۳۲ میلیونه امریکایي ډالر سپما رامنځ ته شوې. د افغانستان د ګمرګاتو په ریاست کې په اصلاحاتو کې د بشري سرچینو د یوې نوې پالیسي معرفي کول او د قانون د انفاذ د یوه واحد تاسیسول شامل دي. په ۲۰۱۵ کال کې، ملګرو ملتونو په افغانستان کې د ګمرکونو د ۱۵ ادارو له عصري کولو او له ګاونډیو هیوادونو سره د ګمرکي خدمتونو له همکارۍ سره مرسته کړې. دغو ګامونو په ۲۰۱۴ کې له ۷۵۰ میلیونه امریکایي ډالرو څخه په ۲۰۱۵ کې ۹۰۰ میلیونه امریکایي ډالرو ته د افغانستان د ګمرکونو د عوایدو له زیاتوالی سره مرسته کړې.

۴۰. د ګمارنې د روڼتیا او د ملکي خدمتونو د اوږد مهالي پایښت د ښه کولو لپاره یو شمیر نوښتونه ترسره شوي. د جنوري پر ۲، ملي شورا د ولسمشر یو فرمان تصویب کړ چې د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو له خپلواک کمیسیون څخه د لوړ پوړو ملکي مامورینو د ګمارنې واک اړوندو وزارتونو ته لیږدوي، څو د ګمارنې پروسه غیر مرکزي او ګړندۍ کړي. کمیسیون یوازې د څارنې رول لوبوي څو له اصولو او کړنلارو څخه د سرغړونو مخنیوی وکړي. د جنوري پر ۴، کابینې په بودجه کې شامل او له بودجې څخه بهر د معاشاتو نوې توحید شوې درجه بندي تصویب کړه. حکومت دغه راز پریکړه وکړه چې د ټولو اړوندو

وزارتونو او خپلواکو ادارو لپاره "د پايلو لپاره د ظرفيت لوړونې" پروګرام ته لاس رسی ساده کړي، څو له لا زياتو هر اړخيزو اصلاحاتو ملاتړ وشي.

**پنځم: بشري مرستې**

۴۱.	پر پراخې جغرافيايي سيمې د جګړې په پايله کې د زياتېدونکو داخلي بېځايه کيدنو او د بشري فعالينو لپاره د ستونزمن عملياتي چاپيريال له امله په ۲۰۱۵ کال کې بشري وضعيت خراب شوی. په ۲۰۱۵ کال کې، د داخلي بېځايه شويو وګړو ملي کاري ځواک چې د کډوالو او بيرته راستنيدونکو چارو د وزارت او د ملګرو ملتونو له خوا په ګډه رهبري کيږي، د هيواد له ۳۴ ولايتونو څخه په ۳۱ هغو کې د جګړې له امله ۳۳۵۰۰۰ بېځايه شوي وګړي ثبت کړي. دا له ۲۰۰۲ کال راهيسې د داخلي بېځايه کيدنې تر ټولو لوړ شمير څرګندوي او د ۲۰۱۴ کال په پرتله ۷۸ سلنه زياتوالی په ډاګه کوي او په دې سره په افغانستان کې د بېځايه شويو وګړو اټکل شوي شمير له ۱ ميليون څخه واوښت. د ۲۰۱۵ کال د اکتوبر او ډسمبر ترمنځ، په ټول هيواد، په ځانګړي ډول په جنوبي او ختيځو سيمو کې ۷۳۴۰۰ افراد تازه بېځايه شوي. ورته جرياناتو په ۲۰۱۶ کال کې هم دوام درلود. زياتره رامنځ ته شوې بېځايه کيدنې نا امنۍ ته منسوب شوي.

۴۲.	د ملګرو ملتونو د خپلې خوښې د راستنيدنې د پروګرام له لارې د افغان کډوالو د راستنيدنې کچه په ۲۰۱۵ کال کې د پام وړ لوړه شوې، چې د کال په اوږدو ۵۸۴۶۳ افراد هيواد ته راستانه شوي، په ځانګړي ډول له پاکستان څخه. دا د ۲۰۱۴ کال په پرتله دوه برابر زياتوالی په ډاګه کوي، کله چې له سياسي او امنيتي ليرد سره د ملو بې باوريو له امله بيرته راستنيدنې په غير معمول ډول خورا ټيټې وې. سربيره پر دې، له پاکستان څخه د ۱۰۰۴۲ د خپلې خوښې او ۱۹۲۳۷ را ايستل شويو په ګډون ۱۱۹۲۷۹ نا ثبت شوي افغانان هيواد ته راستانه شوي، چې د ۲۰۱۴ په پرتله ۴۳۶ سلنه زياتوالی په ډاګه کوي. په ۲۰۱۵ کال له ايران څخه د يوه کوچني شمير مهاجر کارت لرونکو په ګډون ۱۴۳۱۵۴ نا ثبت شوي افغانان را ايستل شوي. دغه راز له ايران څخه نږدې ۲۶۹۵۹۶ د خپلې خوښې راستنيدونکي چې نږدې ټول نا ثبت شوي افراد وو، راستانه شوي. په داسې حال کې چې کوربه ټولنې له ګڼ شمير راستنيدونکو سره مرسته کړې، د اسنادو په تر لاسه کولو او خدمتونو ته په لاس رسي کې خنډونو له نورو موضوعاتو سره يو ځای له ټولنې سره د هغوي د يو ځای کيدنې/ادغام مختلف اړخونو په ناوړه ډول اغيزمن کړي. زياترو راستنيدونکو په ښاري مرکزونو کې د ژوندانه فرصتونو لټون ته ترجيح ورکړې، په داسې حال کې چې هغوي په جنګ ځپلو ولسواليو کې د دغو چارو د ترسره کولو جوګه نه وو. د دې لپاره چې پر هغو سترو ننګونو چې بيرته راستنيدونکي ورسره مخ شوي له برلاسه کيدو سره مرسته وشي، ملګرو ملتونو له حکومت سره د يوې هر اړخيزې د خپلې خوښې بيرته راستنيدنې او ادغام د ستراتيژۍ په طرح کولو او د بيرته راستنيدنې د کاري ګروپ په جوړونې کې مرسته کړې.

۴۳.	په ۲۰۱۵ کال کې، افغانستان له پاکستان څخه د پام وړ کډوالو کوربه و. په اټکلي ډول د کډوالو د ټولټال شمير ۷۴ سلنه- شا و خوا ۲۰۰۰۰۰ کيږي چې لا تر اوسه يې بيا تصديقونې نه ده ترسره شوې- په خوست ولايت کې او پاتې نور په پکتيکا ولايت کې ثبت شوي. زياتره دغه کډوال افغانستان ته د پاکستان په شمالي وزيرستان کې د نظامي عملياتو له امله را کوچيدلي. زياتره يې په کوربه ټولنو کې ميشت شوي، چې د قبيلوي تړاو له لارې په دغې پروسه کې تسهيل او ځای پر ځای شوي. د بشري

مرستو همکارانو بیړنۍ مرستې او دغه راز اوږد مهاله حمایت برابر کړی، سره له دې د سرچینو محدودیتونو غبرګون له خنډونو سره مخ کړی و.

۴۴. د راپور ورکولو په موده کې، افغان دولت او همکارانو له هیواد څخه د افغانانو د وتلو د راکمولو د تدابیرو په اړه خبرې اترې ترسره کړي. په ۲۰۱۵ کال، ۲۱۳۰۰۰ افغانان د سمندر له لارې اروپا ته رسیدلي چې د ټولو تلونکو ۲۱ سلنه جوړوي او تر سوریانو وروسته دویم ستر ګروپ ګڼل کیږي. شا و خوا ۱۳ سلنه یې یوازې کمکیان یا له خپلو کورنیو څخه جلا شوي ماشومان وو، چې په ۲۰۱۴ کال کې د ثبت شویو هغو دوه برابره شمیر ګڼل کیږي. د ۲۰۱۶ کال د فبروري تر نیمه یې پورې، اروپا ته د مدیترانه سمندر له لارې د افغانانو تګ ۲۶ سلنه زیات شوی. اروپا ته د زیات شمیر تلونکو افغانانو ته په غبرګون کې، ګڼ شمیر اروپایي هیوادونو خپل هیواد ته د افغان پناه غوښتونکو بیرته ستنول پیل کړي. د کډوالو او بیرته راستنیدونکو چارو وزارت په ۲۰۱۵ کال کې په هوایي ډګر کې له ایران او پاکستان پرته له نورو هیوادونو د ۶۸۶ خپلې خوښې راستانه شویو او د ۲۵۶ په زور د رایستل شویو راپور ورکړی.

۴۵. د ماین پاکۍ همکارانو چې د ملګرو ملتونو له خوا همغږي کیدله د ۲۰۱۵ کال په څلورمه ربعه کې ۹۴ د ماینونو ساحې او ۱۱ د جګړو ډګرونه پاک کړي، چې له امله یې په ۱۰ ولسوالیو کې ۳۱ ټولنې له ماینونو څخه پاکې اعلان شوي. د دغې ربعې په پای کې، اټکل کیده چې په افغانستان کې ۴۳۰۵ د ماینونو ساحې او د جګړې ډګرونه لا اوس هم پر ماینونو ککړې دي، چې په ۲۶۰ ولسوالیو کې ۱۶۱۵ ټولنې اغیزمنې کوي. په ۲۰۱۵ کال کې د افغانستان په شمالي او شمالي ختیځو سیمو کې د چاودیدونکو وسلو د کارونې په غبرګون کې، د دغو چاودیدونکو توکو د خطر په اړه د پوهاوي او د هغوي د له منځه وړلو ټیمونه دغو سیمو ته لیږدول شوي.

۴۶. د ملګرو ملتونو د نړیوالې څارنې تر چوکاټونو لاندې د بشري مرستو د رسولو لاس رسي خنډونو ثبت جریان درلود. په ټولیز ډول، په ۲۰۱۴ کې د ۲۹۴ پیښو په پرتله، په ۲۰۱۵ کال کې د نا دولتي ادارو، د ملګرو ملتونو او نورو نړیوالو سازمانونو په وړاندې ۲۵۵ پیښې ثبتې شوي. په عمومي ډول، د تیر کال په اوږدو کې د ۵۷ وژل شویو او ۴۷ ټپي شویو په پرتله، ۶۶ مرستندویه کارمندان وژل شوي او ۹۱ نور هغه ټپي شوي. دغه راز د کال په اوږدو ټولټال ۱۵۲ مرستندویه کارمندان تښتول شوي. په ۲۰۱۵ کې، په ۲۰۱۴ کې د پولیو د ۲۸ پیښو په پرتله د ۲۰ پیښو راپور ورکړل شوی. د پولیو د واکسینو د کمپاینونو د امنیت او لاس رسي ننګونې یوه ځانګړې اندېښنه ګڼل کیږي. د ۲۰۱۵ په ډسمبر کې، ۸۹۸۷۳ ماشومان واکسین نه شوای کړای؛ په هلمند کې د روانې جګړې له امله ۱۳۴۹۳ ماشومان نه دي واکسین شوي؛ او په کونړ او ننګرهار ولایتونو کې چیرې چې دولت ضد عناصرو د لاس رسي مخه نیوله، ۷۲۲۸۸ ماشومان نه دي واکسین شوي. په کندهار او هلمند ولایتونو کې د ۲۰۱۶ کال په جنوري کې له دولت ضد عناصرو سره د ترسره شویو خبر اترو وروسته د واکسیناسیون کمپاینونه بیرته پیل شول.

۴۷. په ۲۰۱۵ کال کې د بشري غبرګون ستراتیژیک پلان ۷۰ سلنه تمویل شوی. په ټولیز ډول په ۲۰۱۵ کال کې بشري تمویلونه ۴۲۵ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیدلې، چې ۲۹۲.۲ میلیونه یې د هغو فعالیتونو لپاره ځانګړې شوي کوم چې د بشري غبرګون په ستراتیژیک پلان کې پیشبیني شوي او ۶۶.۶ میلیونه امریکایي ډالر د سره صلیب نړیوالې کمیټې او سرې میاشتې ټولنې

ته. د ملګرو ملتونو د بيړني غبرګون له مرکزي صندوق څخه ټولټال ۵.۸ میلیونه امریکايي ډالر د ډسمبر په نیمه يي کې تایید شول څو له هغو بشري فعالينو سره مرسته وشي چې په افغانستان کې د زلزلې اړوند اړتیاوو او په شمال لویدیځ کې د شخړې اړوند چاپیریال ته ځواب وايي لکه د ترما درملنه، د خوړو بيړني راشنونه او له ۲۲۷۰۰۰ څخه زیاتو خلکو سره د کرنیزو او مالدارۍ حاصلاتو په بیرته فعالولو کې مرسته. د جنوري پر ۲۷، دولت او ملګرو ملتونو د ۲۰۱۶ کال لپاره د بشري غبرګون پلان پیل کړ چې د ۳۹۳ میلیونه امریکايي ډالرو د مرستې غوښتنه يې کوله، چې موخه يې د ۳.۵ میلیونه خلکو د جدي بشري اړتیاوو پوره کول و.

**له نشه يي توکو سره مبارزه**

۴۸. له نشه يي توکو سره د مبارزې وزارت د ملګرو ملتونو د نشه يي توکو او جرمونو د دفتر په ملاتړ د افغانستان د آپیومو د سروې د ۲۰۱۵ کال راپور د ډسمبر پر ۹ خپور کړ، چې په افغانستان کې د نشه يي توکو هر اړخیزه شننه وړاندې کوي. راپور د کوکنارو په کښت او تولید کې د پام وړ کموالی په ډاګه کوي، چې تر څنګ يې په ۲۰۱۳ او ۲۰۱۴ کې له ۱۱۹۹۶۰ کیلو ګرامو څخه په ۲۰۱۴ او ۲۰۱۵ کې ۱۲۸۰۷۹ کیلو ګرامو ته د نشه يي توکو په نیونه کې د پام وړ زیاتوالی رامنځ ته شوي. د چرسو نیونه ۸۱ سلنه زیاته شوې، په داسې حال کې چې د هیرونو او آپیومو نیونه په ترتیب سره ۳۲ سلنه، ۲۵ سلنه او ۱۴ سلنه زیاته شوې. راپور ملاحظه کړې چې نږدې له ۱.۹ میلیونو تر ۲.۴ میلیونونو لویان افغانان پر نشه ئي توکو روږدي، چې د لویانو د نفوس له ۱۲.۶ سلنې سره او د نشه يي توکو د کارونې د نړیوالې اندازې له دوه چندو سره برابر دي. راپور دغه راز په افغانستان کې د درملنې محدود شوي ظرفیت په ډاګه کوي، چیرې چې یوازې ۱۲۳ مرکزونه شتون لري چې د آپیومو او هیروینو د کاروونکو د ۱۰.۷ سلنه د درملنې ظرفیت لري. راپور د یو شمیر سپارښتنو په وړاندې کولو سره پای ته رسیدلی، لکه د نشه يي توکو سره د مبارزې د ملي ادارو ترمنځ همغږي، د تنفیذ، له منځه وړلو، ضبطونې او نیونې له عملیاتو سره او د نشه يي توکو د روږدو د درملنې لپاره د زیات شوي ظرفیت پاییدونکي ملاتړ. د درملنې د ظرفیت د زیاتولو لپاره، د ۲۰۱۵ په ډسمبر کې د عامې روغتیا وزارت، له نشه يي توکو سره د مبارزې له وزارت سره په همغږۍ او د ملګرو ملتونو په تخنیکي ملاتړ د نشه يي توکو د درملنې او بیا رغونې تر ټولو لوي مرکز په کابل کې پرانیست.

۴۹. د ۲۰۱۵ د نومبر د ۱۵ او د ۲۰۱۶ کال د فبرورۍ د ۹ ترمنځ، د قانون نافذوونکو افغان چارواکو د نشه يي توکو پر وړاندې ۵۷۱ عملیات ترسره کړي چې په پایله کې يې کابو ۱۹۴۶۰۷ کیلو ګرامه نشه يي توکي ضبط کړي چې ۲۱۹۳ کیلو ګرامه هیروینو، ۸۷۴۹ کیلو ګرامه آپیوم، ۱۹۷۷ کیلو ګرامه مورفین، ۱۵.۷ کیلو ګرامه میتامفتامین او ۱۸۱۶۷۲ کیلو ګرامه چرس، او پر دې سربیره ۲۷۷۱۹ کیلو ګرامه جامد کیمیاوي پیش سازه توکي، ۱۳۲۷ لیټره کیمیاوي پیش سازه مایع توکي په کې شامل دي؛ او دغه راز ۶۲۹ شکمن کسان نیول شوي او ۱۲۷ نقلیه وسیلې او ۷۸ وسلې او ۷۸ ګرځنده تیلفونونه نیول شوي. د عملیاتو د ترسره کولو پرمهال د افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو درې غړی وژل شوی او نهه نور ټپي شوي.

۵۰. د ډسمبر پر ۱۴، افغان دولت او ملګرو ملتونو په ویانا کې د افغانستان او ګاونډي هیوادونو لپاره د شریکباڼو د لوړې کچې ناسته په ګډه رهبري کړه، په کومه کې چې له نشه يي توکو سره د مبارزې وزیر له نشه يي توکو او د ناقانونه نشه يي توکو

له ګواښ سره د مبارزې لپاره د نشه يي توکو د عمل ملي پلان وړاندې کړ. د غونډې ګډونوالو له عمل پلان او دغه راز د ملګرو ملتونو د نشه يي توکو او جرمونو د دفتر د افغانستان لپاره له پروګرام سره د د ۲۰۱۶-۲۰۱۹ مودې لپاره د ملاتړ خپل چمتوالی په ډاګه کړ، کوم چې د نشه يي توکو سره د مبارزې د وزارت او د نومړي دفتر ترمنځ د ۲۰۱۵ کال د ډسمبر پر ۱۶ نېټه لاسليک شوی.

**اوم. د ماموريت ملاتړ**

۵۱. د امنيتي ګواښ د شنني پر بنسټ، ملګرو ملتونو خپل هغه کارمندان چې په مؤقت ډول له فارياب ولايت څخه ليږدول شوي وو بيرته خپل کار ځای ته د ډسمبر پر ۷ ستانه کړل. يوناما په کندز کې د پخواني دفتر تر ويجاړېدو وروسته، د نوي دفتر په ودانۍ کې اړين کار پيل کړ، څو د دغه سازمان د احد اقل عملياتي امنيتي معيارونو سره تطابق ډاډمن کړای شي. د جوزجان ولايت په شبرغان کې د يوناما دفتر له مهالويش سره سم د ډسمبر پر ۳۱ نېټه وتړل شو؛ د نومړي دفتر فعاليتونه د مزار شريف د ساحوي دفتر له خوا پر مخ وړل کيږي.

**اتم. ملاحظات**

۵۲. افغانستان د ليږد د لسيزې لومړی کال بشپړ کړ. په دغې موده کې د پام وړ او پيچلو ننګونو سره سره دولت د اصلاحاتو اجنډا رامنځ ته کړې، د سيمه ييزې اقتصادي يو ځای کيدنې د پياوړي کولو او د سولې د فعالې پروسې لپاره يې هڅې کړي، په داسې حال کې چې له سختې بلواګرۍ سره يې مبارزه جاري ساتلې. د دغو هڅو سره سره، د سياسي، اقتصادي او امنيتي ليږدونو اغيز خورا سوکه و. د اقتصادي ودې دوامداره کچې، په لوړه کچه بې کاري او د جګړې له امله د بېځايه کيدنې او ولسي وګړو مرګ ژوبلو زياتيدونکې کچې ولسي وګړو ته په لوړه بيه تمام شوي او نيوکه کوونکي سياسي اپوزيسون يې راپارولی. په ۲۰۱۶ کال کې، دولت ته د دې بيړنۍ اړتيا ليدل کيږي چې خپل يووالی وساتي څو افغانستان د ثبات، احتساب او ځان بساينې په لور سوق کړي. په دې برخه کې، دولت د مهمو ګمارنو په لور ګام پورته کولو ته هڅوم.

۵۳. زه د افغانستان له خوا له چين، پاکستان او د امريکا له متحده ايالاتو سره د افغان سولې او پخلاينې په اړه د همغږۍ د څلور اړخيز ګروپ د جوړولو په اړه يوې هوکړې ته د رسيدو هرکلی کوم. دغې چارې د سولې پروسې لپاره پياوړې شوې وړاندوينې درلودې، د کوم درک چې په افغانستان کې د پايښت لرونکي سياسي او اقتصادي پرمختګ لپاره بنسټيز عنصر ګڼل کيږي. د پرمختګ لپاره، دغه مهمه هڅه بايد د افغان دولت او طالبانو تر منځ د مستقيمو خبرو اترو شاهده اوسي. زه په دې برخه کې د دغې موخې لپاره د حکومت له خوا د لار نقشې د تصويب هرکلی کوم او پر غړو هيوادونو د ګټورو مذاکراتو لپاره د يوه مساعد چاپيريال له رامنځ ته کولو سره د مرستې غږ کوم.

۵۴. پر ولسي وګړو د جګړې اغيز لا اوس هم د ناوړه کيدو پر لور روان دی. په ۲۰۱۵ کال کې، جګړې د ماشومانو د نا اټکل شوي شمير په ګډون، له ۳۵۰۰ څخه د زياتو ملکي وګړو مړي پر ځای پريښې، چې د زيات شمير ملکي تلفاتو– مړه او ټپي – لامل شوي، له کوم وخت راهيسې چې په ۲۰۰۹ کال کې ملګرو ملتونو په سيستماتيک ډول د تلفاتو مستند کول پيل کړي. زه

د جګړې له ټولو ښکیلو خواوو غوښتنه کوم چې د بشري حقونو او د بشرپالنې تر نړیوالو قوانینو لاندې خپل مکلفیتونه رعایت کړي او د ملکي وګړو او ملکي جوړښتونو په وړاندې له بریدونو ډډه وکړي او طبي او د بشري مرستو کارمندان او مرکزونه خوندي وساتي. د اندېښنې له عامه بیانیو ها خوا، اوس د جګړې د ښکیلو خواوو لپاره د دې وخت را رسیدلی څو څرګنده کړي چې هغوي په ربښتیا د ملکي تلفاتو راکمولو ته ژمن دي. دوي باید د دغې موخې لپاره څرګند ګامونه پورته کړي. زه له زیاتیدونکو بریدونو سره د افغان ملي او دفاعي ځواکونو د پرسونلو د مخ کیدو لپاره د هغوي قاطعیت او زړورتیا ستایم او د دوامدار نړیوال ملاتړ هرکلی کوم. د ملکي تلفاتو د راکمونې د میکانیزمونو غښتلي کول او احتساب باید د افغان امنیتي ادارو په اساسي پراختیا کې یو لومړیتوب وي.

.۵۵ زه دولت هڅوم چې د مخه نیونکي توقیف په اړه د تقنیني فرمان بیا کتنه د مدني او سیاسي حقونو د نړیوال کنوانسیون چې افغانستان یې غړیتوب لري، سره په سمون کې ترسره کړي.

.۵۶ د سولې تړون په نشتون کې، راتلونکي میاشتې به په ډېر احتمال سره د سختو وسله والو جګړو شاهدې وي. راپورونه د طالبانو د زیاتیدونکې خپریدونکي بلواګرې په ډاګه کوي، چې د امنیتي وضعیت بې ثباتي یې زیاته کړې. زه په ځانګړې ډول د طالبانو د هغو اعلامیو په اړه اندېښمن یم چې مشخص افغان رسنیز چینلونه او د هغوي کارمندان د نظامي اهدافو په څیر په ډاګه کوي، چې د معلوماتو ډګر ته د جګړې د اوښتون ښکارندوی کوي. د طالبانو له خوا د جنوري پر ۲۰ په کابل کې د رسنیو د اوو کارمندانو وژنه د بیان پر آزادۍ مستقیم برید و، او د نظریو، لید لورو او خبرونو پر خپرولو د یوې ننګوونکې اغیز درلودو لپاره طرح شوی و. زه د جګړې له ټولو ښکیلو خواوو غوښتنه کوم چې د بیان د آزادۍ حق درناوي وکړي او ژورنالستان او رسنۍ له بریدونو خوندي وساتي. ناورینونو ته د دولت، بشري فعالینو او ټولنو د ځواب ویلو ظرفیت هم د جګړې له امله اغیزمن شوی. زه د بشري مرستنیدویه کارمندانو د عمدي په نښه کولو او په ۲۰۱۵ کال کې د هغوي د مرګ ژوبلو د لوړ شمیر له امله نارام یم. د بشري مرستو د رسولو لاس رسي په وړاندې خنډونه د ټولنې تر ټولو زیانمنیدونکې غړي په نا متناسب ډول اغیزمن کوي او د مرستو کموالی لا زیات له ننګونو ډکوي.

.۵۷ د پارلماني او ولسوالیو شوراګانو په اړه انتخاباتي موضوعګانو د راپور ورکولو په موده کې د خلکو پاملرنه ځان ته اړولې وه. زه د ټاکنیزو اصلاحاتو د ځانګړي کمیسیون د هغو سپارښتنو د وړاندې کولو هرکلی کومو چې د دغې مهمې موضوع په اړه د مباحثو له ترسره کولو سره یې مرسته کړې. د دولت او سیاسي شریکباڼو له خوا پراخ توافق د افغانستان د ولسواک کولو پروسې د پراخ ملاتړ د ډاډمن کولو لپاره مهم دی.

.۵۸ د اقتصادي ودې په کچه کې دوامداره پرېوتنه د جدي اندېښنې وړ ده. په داسې حال کې چې د دولت له خوا د عوایدو د زیاتولو لپاره د بسیجولو تدابیر هیله بښوونکي دي او پایله یې ورکړې، تمه کیږي چې مالي فشارونه به دوام وکړي. د ناټو سرمشریزې او په پروکسل کې د وزیرانو د کچې پرمختیایي کنفرانس، چې په ترتیب سره به په جولای او اکتوبر کې ترسره شي، دا مهمه ده چې مباحثې له پرمختیایي پایلو سره د دولت پر ونډې د امنیتي سکتور د لګښت اغیز منعکس کړي. دا خورا مهمه ده چې غړي هیوادونه د افغان حکومت له خوا د اصلاحاتو د پروګرام د تطبیق د جوګه کولو په موخه د لیرد لسیزې په اوږدو کې

د مالي او امنيتي مرستو لپاره خپلې ژمنې پوره کړي. په منځ مهالي موده کې د ډونرانو د ملاتړ د دوامداره او د پيشبيني وړ کچو نشتون، د جګړې، بې وزلۍ او د نشه يي توکو نا قانونه سوداګرۍ ناوړه اغيزې ښايي لا زور واخلي او په پراخه کچه پر سيمه اغيز وښيندي.

۵۹. په افغانستان کې د اقتصادي ودې او دغه راز د سولې او امنيت مشترکو موضوعاتو ته د رسيدګۍ لپاره د سيمې د هيوادونو ملاتړ خورا مهم دی. د اسلام اباد پريکړه ليک چې د اسيا زړه کنفرانس د وزيرانو د کچې په کنفرانس کې په اسلام اباد کې تصويب شو، په دې برخه کې د دوه اړخيز اعتبار او باور د چاپيريال له ډاډمن کولو ژمنه منعکس کړې او د سيمه ييزو اړيکو له پرمختګ سره يې په مثبت ډول مرسته کړې. زه د افغانستان له خوا له ګاونډيو هيوادونو سره د دوه اړخيز ګډون/ښکيلتيا او مهمو پروژو لکه د نل ليکې، بندرونه، سړکونه، اورګاډي کرښې او اقتصادي دهليزونو، د کيفيت او ګړنديتوب هرکلی کوم. د سيمې هيوادونه به له پراخې همغږۍ څخه ډير څه ترلاسه کړي.

۶۰. زه په ۲۰۱۵ کال کې د داخلي بېځايه کيدنې په شميرو کې د چټک زياتوالي له امله خورا اندېښمن يم، چې د ۲۰۱۴ کال په پرتله ۷۸ سلنه زياتوالی او دغه راز له پاکستان څخه د نا ثبت شويو راستنيدونکو افرادو په شمير کې زياتوالی وړاندې کوي. دواړه موضوعګانې د د داخلي بېځايه شويو وګړو د ملي پاليسي او دغه راز د خپلې خوښې بېرته راستنيدنې او له ټولنې سره د يو ځای کيدنې د هر اړخيزې ستراتيژۍ په تطبيق کې د پرمختګ په ګډون، د پايښت لرونکو حل لارو د ډاډمن کولو يوه خورا مهمه اړتيا په ډاګه کوي. په ۲۰۱۵ کال کې نا معلوم راتلونکي، راکميدونکو اقتصادي ليد لوري او د نا امنيو اړوند ويرو له ۲۰۰۰۰۰ څخه زيات افغانان د خپل هيواد پرېښودو او په اروپايي هيوادونو کې د نوي فرصتونو په لټه پناه غوښتنې ته هڅولي. پر دغې موضوع بايد افغانستان او هغه هيوادونه چې افغان اتباع ورته پناه وړي په ګډه کار وکړي.

۶۱. په افغانستان کې د سياسي پروسو د دوامدار اهميت په ملاحظه کولو او د امنيتي وضعيت په څارلو سره، غواړم له امنيت شورا څخه غوښتنه کوم چې د يوناما ماموريت چې ټاکل شوې د ۲۰۱۶ کال د مارچ پر ۱۷ نېټه پای ته ورسيږي د ۱۲ نورو مياشتو لپاره وغځوي. د دغه کار په ترسره کولو، يو ځل بيا له افغانستان سره د ملګرو ملتونو د دوامدار مشارکت يادونه کوم، کوم چې په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د بيا کتنې د درې اړخيز کميسيون په نهايي راپور کې په ګوته شوي کوم چې د امنيت شورا ته د ۲۰۱۵ کال په سپتمبر مياشت کې سپارل شوي. زه د هغې موثرې تګلارې يادونه کوم د کومې له لارې چې د ۲۰۱۵ په اوږدو کې اوسنی ماموريت کارول شوي، په تيره بيا د بشري حقونو د موضوعاتو، ډونرانو د همغږۍ او دغه راز د دولت له خوا د غوښتل شوې د لومړيتوب په ساحو کې د ملي ادارو او ظرفيتونو د غښتلي کولو د ملاتړ لپاره نيکې هڅې او ګډون. زه پر غړو دولتونو غږ کوم چې د اړين ملاتړ برابرول جاري وساتي ترڅو په ټول هيواد کې زموږ ګډون او فعاليتونه جاري پاتې شي.

۶۲. زه په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د ټولو کارکوونکو او د افغانستان لپاره زما د ځانګړي استازي او نيکولاس هيثم څخه تر ننګونو ډکو شرايطو لاندې د هغوي د دوامدار تعهد لپاره چې موخه يې د افغانانو د ملاتړ په برخه کې زموږ د ژمنو سرته رسول دي، مننه کوم.

## د معیارونو په وړاندې ترسره شوی پرمختګ

### لومړی. امنیت

**معیار: پایښت لرونکې افغان امنیتي اداري او د سولې او ثبات یقیني کولو او افغان وګړو د ساتنې وړ پروسې.**

| د پرمختګ شاخصونه | مقیاسونه |
| --- | --- |
| د توافق شوي جوړښت سره سم، د روزل شوي او عملیاتي افغان ملي پولیسو او ملي اردو پرسونلو زیات شوي شمیر | • د ۲۰۱۵ تر نومبر پورې، ۱۶۲۶۹۴ پرسونل په افغان ملي اردو او ۶۹۰۷ پرسونل په افغان هوایي ځواک کې خدمت کوي، چې ټولټال ۱۶۹۶۰۱ پرسونل اضافه کوي، چې د ۲۰۱۶ د جنوری میاشت لپاره د نهایي هدف له شمیر څخه ۳۲۳۰۶ هغه کم دی. د ۲۰۱۶ تر نومبر پورې په دواړو افغان ملي اردو او افغان هوایي ځواک کې ۸۸۷ ښځینه پرسونلو دنده ترسره کوله. د ۲۰۱۵ تر نومبر پورې په افغان ملي پولیسو کې ۱۴۷۶۳۵ پرسونلو دنده ترسره کوله چې تر نهایي هدف څخه ۴۳۴۰۹ هغه کم دي.<br>• د ۲۰۱۵ د جنوري د لمړې نیټې څخه راپدې خوا، د ناټو د پریکنده ملاتړ ماموریت د افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو روزنه، سلا مشورې او مرسته جاري ساتلې.<br>• له راپورونو سره سم د افغان دفاعي او امنیتي ځواکونو واقعي ځواک د خیالي ځواکونو/پولیس افسرانو له امله د پورته شمیرو په پرتله ۲۰ سلنه کم دی.<br>• د دسمبر په 2015 کې ، د کورنیو چارو وزارت د پولیسو - ټولنې مشورې لپاره یو لارښود تصویب کړ ، کوم چې د ملي روزنې مرکز نصاب کې د ادغام لپاره مسلکي پراختیا بورډ ته سپارل شوی و. په ټول هیواد کې د ښځینه پولیسو ټولټال ۸۲ شوراګانې رامینځته شوي ترڅو د ښځینه پولیسو ښوونې او روزنې د اړتیاو ملاتړ وکړي. |

### دویم. سوله، ادغام او پخلاینه

**معیار: د سولې د مساعد سیاسي چاپیریال د تقویې لپاره د رغنده او ټوله شموله پروسې د تقویې په موخه ملي ډیالوګ او سیمه ییزه ښکیلتیا**

| د پرمختګ شاخصونه | مقیاسونه |
| --- | --- |
| د سولې، ادغام او پخلاینې هڅو د تقویې لپاره د ټول شموله ملي او سیمه ییزو پروسو طرح او تطبیق | • د ۲۰۱۵ د جنوري راهیسی، د سولې او پخلاینې د زیاتولو په موخه یو شمیر رسمي او نارسمي خبرې اترې ترسره شوې. د ۲۰۱۵ په فبروری کې، د پاکستان د اردو د لوی درستیز په مشرۍ یو هیئت په کابل کې افغان مشرانو ته وویل چې طالبان د سولې د خبرو اترو لپاره د ملاقات ته چمتو دي.<br>• د می په ۲ او ۳ ، په قطر کې د طالبانو د سیاسي دفتر استازو په دوحه کې د "دوهم ټرک" په ناسته کې برخه واخیسته ، چې د |

نړیوال غیر دولتي شبکې ، د ساینس او نړۍ په چارو کې د پګواش کانفرانس لخوا جوړه شوې وه. د افغانستان د سولې عالي شورا غړو ، د افغانستان د حکومت پخوانیو چارواکو او د مجاهدینو د پخوانیو ګوندونو استازو په افغانستان کې د ملي خبرو اترو او شخړو د حل په بحثونو کې په شخصي توګه برخه واخیسته.

- د جولای په ۷ او ۸ مه، د افغانستان د حکومت او طالبانو استازو د لومړي رسمي خبرو لپاره د پاکستان په مری ښار کې سره وکتل. پاکستان حکومت د دغې ناستې کوربه توب کاوه او د متحده ایالاتو او چین د ناظرینو پکې برخه اخیستې وه. په مری کې تعقیبي ناسته ، چې د جولای په ۳۱ نیټه ټاکل شوې وه ، د جولای په ۲۹ د طالبانو د مشر ملا عمر د مړینې له اعلان وروسته لغوه شوه.
- د دسمبر په ۸ او ۹ مه ، په اسلام آباد کې د آسیا زړه هیوادونو د وزیرانو پنځم کنفرانس په څنډه کې ، د افغانستان ولسمشر محمد اشرف غني ، د افغانستان د سولې د پروسې د بیارغونې په هدف په څو غونډو کې برخه واخیسته. د آسیا زړه همکارانو د افغانانو په مالکیت او د افغانانو په مشرۍ د سولې پروسې له سره پیل لپاره خپل ملاتړ تایید کړ. ټاکل شوې وه چې د څلور اړخیزو غونډو لړۍ به د ۲۰۱۶په جنورۍ کې د افغانستان ، چین ، پاکستان او متحده ایالاتو د حکومتونو د استازو په ګډون پیل شي.
- په ۲۰۱۵ کال کې دولت د امنیت شورا کمیټې ته چې د ۱۹۸۸ (۲۰۱۱) پریکړه لیک په تعقیب تاسیس شوې، د دوامدارو، تازه او کره معلوماتو برابرول جاري ساتلي.
- د ۲۰۱۵ کال د مارچ په ۲۷، د امنیت شورا کمیټې چې د ۱۹۸۸ (۲۰۱۱) پریکړه لیک سره سم رامینځته شوې، د امنیت شورا د ۱۲۶۰ (۲۰۱۴) پریکړه لیک د ۱ فقرې پراساس د شتمنیو کنګل کولو ، د سفر بندیز او د وسلو بندیز پورې اړوند اشخاصو او شرکتونو لیست کې د یوه فرد او دوه شرکتونو اضافه کول تصویب کړه. د ۲۰۱۵ کال د نومبر په ۲ ، یادې کمیټې د امنیت شورا د ۲۰۸۲ (۲۰۱۲) د لمړۍ فقرې په اساس، د ۱۹۸۸ په لیست کې د یو فرد اضافه کول تصویب کړل.

د امنیت شورا کمیټې ته چې د ۱۹۸۸ (۲۰۱۱) پریکړه لیک په تعقیب تاسیس شوې، د تازه او کره معلوماتو د راغونډولو او وړاندې کولو زیاته شوې وړتیا

- د جون میاشت په ۱۵ نیټه، د افغانستان د علماوو د اسلامي دعوت بنسټ د کندز له علماو سره په ګډه په افغانستان کې د سولې او پخلاینې په ملاتړ غونډه جوړه کړه. شاوخوا ۴۰۰ تنو دیني عالمانو په دې مراسمو کې برخه واخیسته. دغه غونډه په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستندویه پلاوی د ماموریت (یوناما) په ملاتړ جوړه شوه.
- د اکتوبر په ۲۸ ، ، په افغانستان کې د سولې د راتلونکي په اړه د سولې په غونډه کې چې په کابل کې جوړه شوی و، د سولې د عالي شورا سرپرست ، عبدالحکیم مجاهد ، له حکومت او نړیوالې ټولنې څخه وغوښتل چې له وسله والو مخالفینو سره چې څومره زر کېدې شي.د سولې خبرې بیا پیل کړي

د ټولنې په کچه او له مدني ټولنې سره د ښکیلتیا له لارې د سولې پروسې لپاره د خلکو د ملاتړ زیاتیدل

**دربېيم. حکومتولي او د ادارو جوړونه:**

**معيار: په ځايي کچه د پاليسي ګانو د تطبيق ظرفيت او خپلو ځانونو د ساتلو له زياتيدونکي وړتيا سره د ډيموکراتيکو، قانوني، او حساب ورکوونکو ادارو د جوړولو له لارې په ټولو هيواد کې د حکومت د واک پراخول.**

| *د پرمختګ شاخصونه* | *مقياسونه* |
|---|---|
| د ښځو ګډون او په قانوني ډول ورکړل شوې ونډې په پام کې نيولو سره، د حقيقي او مهالنيو ټاکنو ترسره کولو لپاره د افغان چارواکو او د خپلواکو ټاکنيزو ادارو د وړتيا زياتوالې | • د ۲۰۱۵ اګست په ۳۰ او، دسمبر په ۲۱، د ټاکنيزو اصلاحاتو ځانګړي کميسيون ، چې د جولای په ۱۶ رامينځته شو ، حکومت ته د پراخو مشورو وروسته د اصلاحاتو لپاره د دوه وړانديزونو جامع کڅوړې وړاندې کړې. حکومت د سمون لپاره وړانديزونو کوم چې د ټاکنو پروسې او ادارو پايښت ، بشپړتيا ، جامعيت او روڼتيا د ودې پورې اړوند اساسي مسلې په ګوته کوي، هرکلی يې وکړ. ياد کميسيون په رسمي ډول د دسمبر په ۳۱ نيټه خپل ماموريت بشپړ کړ.<br><br>• د ۲۰۱۵ کال د سپتمبر په ۶، حکومت په لومړي پړاو کې پرته له دريو وړانديزونو، د کميسون ټول لنډ مهاله وړانديزونو يې تصويب کړل او د انتخابي حقوق چوکاټ د تعديل په اړه يې دوه تقنيني فرمانونه صادر کړل تر څو د بدلونونو د راوستول زمينه برابره کړي. هغه تقنيني فرمانونه چې د اکتوبر په اوومه ولسی جرګې ته استول شوي ول ، د دسمبر په مياشت کې ولسي جرګې لخوا رد او مشرانو جرګې ته يې راجع کړل.<br><br>• کميسيون وړانديز کړې و چې په ولايتي او ولسواليو شوراګانو کې ۲۵ سلنه څوکۍ د ښځو لپاره ځانګړي شي چې د ښاغلي غني لخوا د ۲۰۱۵کال د سپتمبر په ۶ مه تصويب شو ، په دې توګه د ۲۰۱۳ کال بدلونونه تعديل شول چې په پايله کې ونډې په ترتيب سره د ۲۰ او صفر ته ټيټه شوه.<br><br>• د کميسون لنډمهاله وړانديزونو په رڼا کې ، د ټاکنو د نوي کميسيونونو رامينځته کولو پروسه د دسمبر په مياشت کې د ولسمشر لخوا د انتخاب کميټې په رامينځته کولو سره پيل شوې وه. ياده کميټه مسؤليت لري تر څو نوي کميشنرانو معرفي کړي ترڅو د ولسمشر لخوا وټاکل شي.<br><br>• د ۲۰۱۵ له جون راهيسې ، د دواړو انتخاباتي ادارو يعنی د ټاکنو د خپلواک کميسيون او د ټاکنيزو شکايتونو خپلواک کميسيون لګښت د ملي بوديجې چوکاټ لاندې راغلی. د ملګرو ملتونو انکشافي پروګرام (UNDP) د انتخاباتي بنسټونو په شمول د انتخاباتي اصلاحاتو پروسې سره تخنيکي ملاتړ ته دوام ورکړ. UNDP د تدارکاتو ، بشري سرچينو او مالي مديريت په اړه د ټاکنو خپلواک کميسيون لپاره د روزنې برنامې ملاتړ کړې. |

| | |
|---|---|
| د اداري فساد پر وړاندې د څارنې او ارزونې د خپلواکې ګډې کميټې تاسيس او د اداری فساد پر وړاندې د معيارونو رامنځته کول | • د دسمبر په ۲۹، حکومت د ۲۰۱۶ کال په دويمه نيمايي کې د پارلماني او ولسواليو شوراګانو د ځنډول شوي ټاکنو ترسره کولو ته چمتووالی اعلان کړ.<br>• په دولتي ادارو کې د اداری فساد ضد اقداماتو د نظارت پشمول، حکومت د اداري فساد پروړاندې د څارنې او ارزونې د خپلواکې ګډې کميټې د نظارت رول دوام ته زمينه برابره کړه. د ۲۰۱۵ کال په جون او اګست کې يادې کميټې اداری فساد ته د زيامنتوب درې ارزونې خپرې کړې چې د شخړې له امله د شهيدانو او معلولينو لپاره د تادیې سيستم ، د ښځو په وړاندې د تاو تريخوالي د له منځه وړلو په قانون پورې تړلي د تحقيقاتو پروسې ، او په عدلي او قضايي سيستم کې د رسمي اسنادو د ثبت په هکله ولی.<br>• د ۲۰۱۵ سپتمبر په ۱۷ ، د نظارت او ارزونې کميټې خپل اتم شپږ مياشتنی جامع راپور خپور کړ. راپور په ۲۰۱۰ کال کې د کميټې له تاسيس راهيسې تر دې دمه د ټولو ۳۸۰ وړانديزونو د مطابقت څرنګوالي کچه ارزيابي کړه ، چې له ۳۰ څخه د زياتو ادارو نمونې يې لري. ارزونې ښودلې چې په ۷۶ قضيو کې (۲۰ سلنه) ، وړانديزونه په پام کې نه دي نيول شوي؛ په ۱۷۶ قضيو کې (۴۶ سلنه) ، وړانديزونه يوازې يو څه پلي شوي؛ او په ۱۲۸ قضيو کې (۴۲.۶۶ سلنه) ، وړانديزونه په بشپړ ډول پلي شوي. د کميټې په وينا ، پايلې د کميټې د سپارښتنو د پلي کولو په برخه کې د حکومت په کړنو کې د پام وړ ښه والي اړتيا څرګندوي.<br>• د اکتوبر په ۲۱ ، د نظارت او ارزونې کميټې د بريښنايي پيژند پاڼو ملي پروژې په هکله د اداری فساد څخه د زيان منني ارزونه خپره کړه ، په کوم کې چې د کارمندانو ګمارنې او تدارکاتو په اړه د پام وړ اندیښنې روښانه شوې. لکه څنګه چې د ښاغلي غني لخوا غوښتنه شوې ، ياده ارزونه د ملي شورا او مدني ټولنې د غړو اندیښنو په ځواب کې ترسره شوه.<br>• د ۲۰۱۵ کال د نومبر په ۸ ، د نظارت او ارزونې کميټې په افغانستان کې د ټاکل شوي بهرنې مرستې برنامو بياکتنه خپره کړه. ياد راپور ۱۴ پروژې وڅیړلې ، چې د پنځو بيلابيلو تمويلوونکو لخوا تمويل شوې او د سړک جوړونې ، د زندانونو اصلاحاتو ، د روغتيا پاملرنې خدمات او بشري مرستو په شمول متعدده سکتورونه پکښې شامل ول ، ترڅو د مرستې اغیزمنتيا کې د تغيراتو مثالونه وړاندې کړي. |
| د اداري فساد پر وړاندې د ادارو پياوړتيا تر څو يادې اداری د اداري | • يوناما، د تمويل کوونکو د نماينده ګانو سره يو ځای، د منظم مياشتنۍ ناستې له لارې د شفافيت او حساب ورکونې دکاري ډلې هڅو ته د اسانتياوو برابرولو ته دوام ورکړ تر څو د حکومت سره د |

| | |
|---|---|
| فساد پر وړاندې د حکومت د بشپړ روش د نظارت توان پیدا کړي | اداری فساد پر وړاندی د مبارزې د اقداماتو په پلي کولو کې مرسته وکړي.<br><br>• د اداري فساد پروړاندې د ښه فعالیتونو د مالتړ لپاره ، حکومت اداري فساد سره د مبارزې موازی بنسټونو ، د نظارت عالي اداره ، د تفتیش عالي اداره او لويه څارنوالی په پشمول، له مينځه وړلو لپاره اداري حکم صادر کړ. همدا راز، یاد حکم د پالیسی اړوند فعالیتونو څخه د څارنې او نظارت مسؤلیتونو د جلا کولو لپاره صادر شو او له بله خوا یاد حکم موخه دا وه ترڅو د د اداري فساد ضد خپلواک کمیسیون رامینځته کړي کوم چې د څارنې صلاحیت لري. په هرصورت ، لکه څنګه چې حکومت اړ و چې د تخنيکي مسلو له امله تعقیب شي ، نو د فساد قضیو کې تحقیقاتي واک اوس مهال یوازې د لویې څارنوالۍ په غاړه دی. د لوی څارنوال چوکۍ تشه پاتې ده.<br><br>• په ۲۰۱۵ کې ، د نظارت عالي اداري د اړوندو ذيدخلو اړخونو سره په مشوره او د اداري فساد پروړاندې د حکومت اجنډا سره سم د اداري فساد پروړاندې د ملي ستراتیژۍ په تعدیل کار وکړ.<br><br>• حکومت د اقتصادي فرصت په توګه د استخراجي صنایعو پراختیا ته دوام ورکوي. د حکومت د فبروري د ۸ نیټې د غونډې په څواب کې ، ملګرو ملتونو د پالیسی جوړولو ، تنظیمي ظرفیتونو او عامه مشورو برخو کې مرسته وړاندی کړه. د استخراجي صنایعو د شفافیت نوښت (AEITI) په ناسته کې چې د اپریل په میاشت کې په برازاویل کې جوړه شوې وه ، افغانستان کاندیداتور په نوښت کې د شاملیدو په درشل کې د 18 میاشتو لپاره تمدید شو.<br><br>• د جون له ۱ څخه تر ۵ پورې ، حکومت د فساد په وړاندې د ملګرو ملتونو کنوانسیون تطبیق باندې د افغانستان د لازمي بیاکتنې په اړه د دوه بیاکتنې دوه هیوادونو د اداري فساد ضد کارپوهانو سره وکتل.<br><br>• حکومت د فساد پر وړاندې خپلې هڅې په ټولو دولتي ارګانونو کې په لاره واچولې. پنځه عایداتي وزارتونه (د مالیې ، کانونو او پټرولیم ، سوداګرۍ او صنایعو ، ترانسپورت او ملکي هوايي چلند ، او مخابراتو او معلوماتي ټیکنالوژۍ) د فساد ضد پلانونه چمتو کړي. دغه پلانونه د ۲۰۱۵ کال په وروستیو کې مالیې وزارت ته استول شوي وو او دا مهال د ولسمشر د دفتر څخه تصویب ته انتظار باسي. د پلانونو تصویب سره جوخت، کله چې تطبیق پیل شي ، د یادو ارګانونو څخه تمه کیږي چې خپل درې میاشتنی راپورونه حکومت ته وړاندې کړي. له نورو وزارتونو څخه تمه کیږي چې په راتلونکي کال کې ورته پلانونه وړاندې کړي.<br><br>• د افغانستان د اساسي قانون د ۱۵۴ مادې سره سم ، د ۲۰۱۵ کال د جون په ۲۰ ، حکومت ولسمشر او دوه مرستیالانو ، وزیرانو ، د |

| | |
|---|---|
| د دولتي چارواکو د شتمنیو د اعلان کلنۍ خپرونه | سترې محکمې غړو او د حکومت اجرائیه رئیس او د هغه دوه مرستیالانو ته د شتمنیو د ثبت فورمې وویشلې. د دې راپور چمتو کولو په وخت کې ، ټولو لوړ پوړو چارواکو ، پرته له یوه څخه ، خپلې شتمنۍ یې د نظارت عالي اداری سره ثبت کړې. د ملکیتونو تثبیت په دسمبر کې پیل شو. د میکانیزم پیچلتیا په پام کې نیولو سره ، د پاتې چارواکو شتمنیو تثبیت به په راتلونکې کې پیل شي. |
| په مرکزي، ولايتي او د ولسواليو په کچه په ملکي برخو کې د ملکي کارکوونکو د ظرفیت لوړوالي تر څو دندې پر مخ بوزي او خدمتونه وړاندې کړي | • په ۲۰۱۵ کال کې ، د عامه خدماتو انستیتوت لخوا عامه خلکو ته د خدمتونو د وړاندې کولو د کیفیت ښه کولو په مقصد د پنځو عامو کارونو (مدیریت ، کمپیوټرونو ، ژبې ، بشري سرچینو او ادارې / مالي چارو) په اړه د ظرفیتونو لوړولو روزنیز سیمینارونه ترسره شول. یاده روزنه په ټولیز ډول ۴۰۲۳ملکي کارمندانو ته ورکړل شوې ، چې له دې څخه ۱۱۱۸ تنه یې ښځینه دي. په ټوله کې ، ۲۰۸۳ تنه په مرکزي کچه او ۹۴۰ تنه په سیمه ییزه کچه روزل شوي وو. سربېره پردې ، ۷۰۲ لوړ پوړو او منځنۍ کچې ملکي کارمندانو په هندوستان ، مالیزیا ، کوریا ، سنګاپور او تایلینډ کې د سیمه ییزې حکومتدارۍ او عامه مدیریت په اړه روزنه ترلاسه کړه. |
| د ملکي خدمتونو د ګمارنو روڼوالی او موثریت زیاتوالې | • ولسمشر د 2015 په سپټمبر کې اداري فرمان صادر کړ چې د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو خپلواک کمیسیون د ګمارنې واک یې لغوه کړ. پرځای یې ، فرمان وزارتونو ته واک ورکړ چې د لوړ رتبه ملکي کارمند پوستونو لپاره د ګمارنې پروسه ترسره کړي. د فرمان له خپریدو راهیسې ، ګمارنې د اړوندو وزارتونو لخوا ترسره شوي ، پداسې حال کې چې کمیسیون د ګمارنې پروسې پرمهال څارونکی او ناظر پاتې کیږي او د سرغړونو په صورت کې کولی شي د ټول بهیر په وړاندې اعتراض وکړي یا هغه ودروي.<br><br>• په ټولو کچو کې د ملکي کارمندانو د وړتیا پر اساس ګمارنې ډاډ ترلاسه کولو هڅې په ۲۰۱۵ کې دوام لري. د دې پروسې له لارې ۵۸ نور ولسوالان ، ۳۰ ریيسان (دوهم رتبه) او ۸۰۰ ملکي کارمندان (د ۱-۸ بست) ګمارل شوي و. په ټولو کچو پشمول په کابل کې د سیمه ایزو ارګانونو خپلواکې ادارې د مرکزي دفتر او د هغې ولایتي او ولسوالۍ دفترونو په شمول، ګمارنې ترسره شوې. |
| د ملکي خدمتونو د اصلاحاتو پیاوړتیا چې ملاتړ یې د ظرفیت جوړونې او د تمویل کونکو د تخنیکي مرستې د یوه جامع روش له خوا کیږي | • د جون په ۲۸ ، د اصلاحاتو او ښې حکومتدارۍ په اړه د ولسمشر ځانګړې استازې ، احمد ضیا مسعود د وړاندیز شوي اداري اصلاحاتو په اړه خپل راپور وړاندې کړ او له اداري فساد سره د مبارزې ، سیاسي ګډون او ملکي خدمتونو په برخو کې د ظرفیت جوړونې د ودې په اړه وړاندیزونه وړاندې کړل.<br><br>• د ۲۰۱۵ کال په نومبر کې ، د اداري اصلاحاتو او ملکي خدماتو خپلواک کمیسیون پر حکومت فشار راوړ چې د ملکي خدماتو قانون نهایي کړي ، کوم چې دوه کاله وړاندې تصویب شوی و او د بیاکتنې |

| | |
|---|---|
| | لپاره عدلیې وزارت ته سپارل شوې و. له څنګه چې وروسته لدې هیڅ پرمختګ نه و شوی ، ولسمشر د ۲۰۱۵ د دسمبر په ۱۶ ، د ولسمشر دوهم مرستیال ته دنده وسپارله چې د قانون مسوده بیاکتنه لپاره د یوې کمیټې د جوړولو او د کابینې او پارلمان لخوا د تصویب لپاره اړین ګامونه واخلي. کمیټه اوس قانون ته بیا کتنه کوي.<br><br>• د مالیې وزارت د ظرفیت جوړونې نوی عملیاتي لارښود د پایلو پروژې لپاره رامینځته کړی چې د ۲۰۱۵ دسمبر کې پای ته رسیدلی و. د نوي لارښود د پراختیا هدف د تمویل کونکو لخوا تمویل شوي تخنیکي مرستې ظرفیت لوړولو او د دولت د ملکي خدماتو د سمون اجنډا پیاوړي کول دي. |
| د سیمه ایزې حکومتدارۍ پالیسۍ پلي کول او د سیمه ایزو تنظیماتي، مالیاتي او بودجه وی چوکاټونو منځته راوړل. | • د راپور ورکولو په موده کې ، د ښاروالۍ قانون په اړه د عدلیې او ښار جوړونې وزارتونو او د کابل ښاروالۍ متعدده ناستې ترسره شوې. ټولو اړوند ادارو د کار ، رول او مسؤلیتونو په ویش موافقه وکړه. قانون د طی مراحل لپاره بیرته کابینې ته راجع شوی.<br><br>• د مارچ په ۴ ، ښاغلي غني یو فرمان صادر کړ چې پر حکومتي څانګو د ولایتي شوراګانو د نظارت واکونه بیرته راژوندي کړي. د دې عمل له لارې ، د ولایتي شوراګانو لخوا یو اعتصاب پای ته رسیدلی و ، چې د ملي شورا ولسي جرګې وروسته له هغې پیل شو چې د جنوري په ۲۸ د نظارت واکونه دې لرې کړي.<br><br>• د ۲۰۱۵ کال د اکتوبر په ۵ ، کابینې د ولایتي بودجې تمویل تایید کړ. دغه پالیسي د شفاف ، وړاندوینې وړ او برابر ولایتي بودیجې پروسې تضمین کوي چې د ملي پلان جوړولو او بودیجې پروسې په جریان کې د ولایتي ادارو مشورې ته اجازه ورکوي.<br><br>• د ۲۰۱۵ په نومبر کې ، د سیمه ایزو ارګانونو خپلواکه اداري ملي شورا ته خپل تعدیل د سیمه ایزې ادارې قانون کې وسپارلې.<br><br>• د سیمه ییزې حکومتدارۍ پالیسي ، چې د دولت لخوا په ۲۰۱۰ کال کې تصویب شوې ، د نوي حکومت لخوا د ۲۰۱۵ کال په دسمبر کې بیاوکتل شوه. وروسته، د بیاکتل شوې تګلارې مسوده د بیاکتنې او تصویب لپاره ولسمشر او اجرائیه رییس ته وسپارل شوه. |
| د اداري پولو لپاره د معیارونو پراختیا او خپرول | • ملي او بین المللي اداري د ۲۰۰۹ کال د داخلي پولو معلوماتی مجموعه کاروي ، کوم چې د سیمه ایزې حکومتدارۍ خپلواکه ادارې او د جیوډیسی او کارتوګرافي مرکزي دفتر لخوا ټاکل شوي. |

| | |
|---|---|
| د کارنده دولتي ادارو لپاره د مناسبو زیربناوو را منځ ته کول ، په ځانګړې توګه په سیمه ییزه کچه | • د مخابراتو سیستمونه د سیمه ایزې حکومتدارۍ په خپلواکه اداره کې او د والیتونو په ۱۲ دفترونو کې نصب شوي وو. دغه یاده اداره پلان لري چې پاتې والیتونه هم تجهیز کړي. |
| د باور وړ او لاس رسی وړ عدلي او جزايي سیستمونو تاسیسول چې د ټولو اتباعو بشري حقونو ته درناوي وکړي او د هغو ساتنه کوي | • د جزائی قوانینو کاري ډلې ، چې عدلیې وزارت یې رهبري کوي ، خپلې منظمې اوونۍ ناستو ته دوام ورکړل چې هدف یې د جزا قانون د ماهوی احکامو بیاکتنه ده ترڅو لا نور وضاحت پکښې راولیلي او په افغانستان کې د جزا قانون کې د نړیوالي عدلي او بشري حقونو موجوده معیارونه پکښې شامل کړي.<br><br>• د جزائی قوانینو کاري ډلې ، چې عدلیې وزارت یې رهبري کوي، خپلې منظمې اوونۍ ناستو ته دوام ورکړل ترڅو ترڅو د جزايي اجرااتو او مقرراتو د پلي کیدو په ملاتړ شرحه او لارښود بشپړ کړي.<br><br>• د ۲۰۱۵ کال په جریان کې ، د سترې محکمې څارنې او کنټرول ریاست د رشوت اخیستنې یا جعل او تزویر د ۶۱ قضیو په اړه تحقیقات بشپړ کړي ، چې پکې ۶ قاضیان ، ۱۱ قضايي کارمندان او ۴۴ نورو کارمندانو برخه درلوده. ټول ۶۱ تنه نیول شوي او د څارنوالۍ ته د تحقیق او عدلی تعقیب لپاره راجع شوي دي.<br><br>• د افغانستان د مدافع وکیلانو خپلواکه ټولنې سره راجستر شوي وکیلانو شمیر په ۲۰۱۴ کې له ۲۱۶۷ څخه په ۲۰۱۵ کې ۲۶۴۵ ته لوړ شو.<br><br>• د محابسو روغتیايي خدماتو په اړه د یوناما راپور د ۲۰۱۶کال په جنوري کې بشپړ شو. یاد راپور جوته کوي چې بندیانو ته د روغتیا خدماتو وړاندې کولو په اړه د بندیانو سره د چلند لپاره د ملګرو ملتونو معیاري لږترلږه مقرراتو (نیلسن منډیلا قواعد) پلي کولو کې یو څه پرمختګ شوی که چیرې له هغو روغتیايي خدمتونو سره پرتله شي چې په لویه کچه ټولنې ته شتون لري. خو، د نورو معیارونو د بشپړ پلي کولو لپاره په ځانګړې توګه د ښځینه بندیانو په اړه نورو هلو ځلو ته هم اړتیا لیدل کیږي.<br><br>• د ۲۰۱۵کال په دسمبر کې ، د عدلیې وزیر د ماشومانو د بیا رغونې د موجوده مرکزونو د هراړخیزې ارزونې غوښتنه وکړه ترڅو د درملنې لږترلږه مقررات اطاعت وشي او د راتلونکې اصلاح لپاره اساس چمتو شي. |

**څلورم. بشري حقونه**

**معیار: د افغانستان د اساسي قانون او نړیوالو قوانینو سره سم د افغانانو بشري حقونو ته د درناوي ښه والی، په تیره بیا، د ملکي وګړو ساتنه، د ښځو او نجونو وضعیت، د بیان آزادي، د قانون د حاکمیت پر بنسټ حساب ورکونه**

| *د پرمختګ شاخصونه* | *مقیاسونه* |
|---|---|
| د نړیوالو قوانینو سره د ذیدخلو مراجعو د سمون له لارې، د ملکي خلکو په وړاندې د ځواک د نا قانونه کارونې او ویرولو د پیښو په شمیر کې کمښت | • په ۲۰۱۵ کې، یوناما ټولټال ۱۱۰۰۲ ملکي تلفات (۳۵۴۵ مړه او ۷۴۵۷ ټپیان) مستند کړې. د ۲۰۱۴کال په پرتله د ملکي مړینو کچه څلور سلنه زیاته شوې. یوناما د ټولو ملکي تلفاتو ۶۲ سلنه دولت ضد عناصرو، ۱۷ سلنه دولت پلوه ځواکونو (۱۴ سلنه افغان امنیتي ځواکونو، ۲ سلنه نړیوالو پوځي ځواکونو او ۱ سلنه دولت پلوه وسله والو ډلو) ته منسوب کړې او ۱۷ سلنه د دولت پلوه ځواکونو او د دولت ضد عناصرو ترمنځ ډزو ته منسوب شوی دی. د جنګ بې شمیره چاودیدونکي پاتې شوني د پاتې ۴ سلنه تلفاتو مسؤلیت په غاړه لري ، ماشومانو یې د قربانیانو لوی شمیر جوړوي. د حکومت ضد عناصرو او دولت پلوه ځواکونو تر منځ ځمکنۍ نښتې د ملکي تلفاتو ترټولو اصلي لامل پاتې شوی ، چې د ۴۱۳۷ ملکي تلفاتو (۱۱۱۱ مړه او ۳۰۲۱ ټپیان) ، وروسته د په لاس جوړ چاودیدونکو توکو د ۲۳۶۸ ملکي تلفاتو (۷۱۳ مړه او ۱۶۵۵ ټپیان) اړولي.<br>• په ۲۰۱۵ کال کې ، د ماشومانو او وسله والې شخړې په اړه د څارنې او راپور ورکولو لپاره د ملګرو ملتونو په مشرۍ د هیواد کاري ځواک د ۲۸۲۹ماشومانو تلفات (۷۳۳ مړه او ۲۰۹۶ ټپیان) مستند کړل چې د ۲۰۱۴ کال په پرتله ۱۴ سلنه زیاتوالی ښیي.<br>• حکومت په توحید (د ولسمشرۍ د معلوماتو د همغږۍ پخواني مرکز) کې د ملکي تلفاتو د تعقیب د واحد له لارې د ملکي تلفاتو تعقیب ته دوام ورکړ او د ملکي تلفاتو د مخنیوي او کمولو ملي پالیسي رامنځته کړه.<br>• د ۲۰۱۵ کال دسمبر په میاشت کې، د ماشومانو حقونو د خوندیتوب لپاره د وزیرانو دایمي کمیټې د عمر د ارزونې ملي لارښودونه منظور کړې. دغه لارښوونې د عمل پلان پلي کولو او د مطابقت لپاره د پلان نقشې پلي کولو لپاره د دولت د مکلفیتونو یو اړخ منعکس کوي. د دې لارښودونو تصویب د ماشوم او وسله والې شخړې په اړه د عمومي منشي د راپورونو له ضمایمو څخه، د افغان سیمه ییزو پولیسو په ګډون، د افغان ملي پولیسو د لست څخه د ایستلو په لاره کې یو مهم ګام دی. |
| د خپلو حقونو په اړه د افغانانو او د حکومت له خوا د خپلو ژمنو په اړه د پوهاوی لوړوالی | • د خپل ملي پلان پراساس، دولت ، د شکنجې د له منځه وړو په هکله د شکنجې او نورو جرمونو ، غیر انساني یا د تحقیر څخه ډک سلوک یا جزا پروړاندې د کنوانسیون اختیاري پروتوکول تصویب کولو او د اختیاري پروتوکول په اساس د مخنیوي ملي میکانیزم رامنځته کولو لپاره ژمن دی. حکومت ژمن دی چې د شکنجې پروړاندې د کنوانسیون د ۲۸ مادې سره سم، خپله اعلامیه بیرته واخلي، کوم چې د شکنجې پروړاندې د کمیټې واک نه مني چې د افغانستان توقیف خونو څخه لیدنې وکړي او د بندیانو څخه |

شکایتونه ترلاسه کړي. حکومت نه اختیاري پروتوکول تصویب کړ او نه يې د کنوانسیون د ۲۸ مادې پراساس خپله اعلامیه بیرته اخیستې.

- په فبروري کې ، یوناما خپل دریم عامه راپور د هغه افرادو سره د چلند په هکله خپور کړ چې د شخړې د توقیف سره په تړاو پورې اړه لري او کوم چې یو لړ وړاندیزونه لري. حکومت د راپور هرکلی وکړ ، هلته يې وړاندیزونه تایید کړل او وروسته يې د فبروری په میاشت کې د شکنجې د له منځه وړلو د ملي پلان په ډول کې خپور کړ. په ملي پلان کې یو شمیر تقنیني ، مخنیوي ، تعلیمي او ظرفیت جوړوني اقدامات شامل دي چې د حساب ورکونې د ودې او د نړیوال او کورني قانون پلي کولو لپاره د افغانستان د اغیزمن تطبیق ډاډ ترلاسه کولو لپاره طرحه شوي. خو، ملي پلان د اوسني راپور چمتو کولو په وخت کې لاهم معیارونه او مهال ویش نلره.

- د اکتوبر په ۱۵ ، د سپتمبر له ۲۸ څخه د اکتوبر تر ۱۳ پورې، د طالبانو لخوا د کندز برید او وروسته د یاد ښار د کنټرول وروسته، د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون د بشري حقونو ، نړیوال بشردوستانه قانون او ملی قوانینو سرغړونو په اړه یو ۲۰ صفحه يې راپور خپور کړ. کمیسیون همدارنګه د ټولو ښکېلو خواو لخوا د ترسره شویو سرغړونو په هکله د لا نورو تحقیقاتو غوښتنه وکړه. طالبانو دغه موندنې رد کړې.

- د پوهنتون زده کونکي ، محلي مشران ، د ولایتي شوراګانو غړو او د سولې شورا غړو او د مدني ټولنې څوانانو ډلو په ګډون، په ټولیزه توګه ۱۵۲۷ تنو (چې ۹۰۱ يې ښځینه وو) د جنډر مساوات او څواکمنتیا لپاره د ملګرو ملتونو اداري لخوا په روزنیزو غونډو کې برخه اخیستې وه. په یاد رونیز پروګرامونو کې د ښځو لپاره د ملګرو ملتونو دفتر (UN-Women) ښوونیز کتاب وکارول شو ، چې د ښځو په وړاندې د تبعیض د ټولو ډولونو د له منځه وړلو کنوانسیون او د امنیت شورا د ۱۳۲۵پریکړه لیک په اړه لیکل شوی ده. په ۱۶روزنیزو غونډو کې هغه مفاهیم او مطالب په پام کې نیول شوي و، چې په یاد کنوانسیون او د امنیت شورا ۱۳۲۵، ۱۸۲۰، ۱۸۸۸، ۱۸۸۹ او ۱۹۶۰ په پریکړه لیکونو کې ذکر شوی وو. یاد روزنیزې غونډې د ۲۰۱۵ په جریان کې په بغلان ( ۵-۱۰ دسمبر)، بلخ (د جنوري ۲۴ څخه د فبروری تر ۲ پوری) دایکندي ( ۱۵-۱۰ دسمبر)، غور (۱۴-۱۶ او ۲۱-۲۳ اکتوبر) کابل (۱۰-۱۹ جنوری) ، کندهار (۱۰-۱۸ جنوري) ، کندز ( ۱۳-۲۲ جنوری ) او تخار ( ۵-۱۰ دسمبر) ولایتونو کې ترسره شوي دي.

- د ملګرو ملتونو د "HeforShe" په کمپاین کې چې د ملګرو ملتونو د ښځو لپاره د اداري له خوا پیل شوې و، ولایتي چارواکو ، د مدني ټولنې استازو او علمي بنسټونو او او پنځه علمي نهادونو (کابل ،

| | |
|---|---|
| | ګوهرشاد ، دنیا، امریکایي پوهنتون او د معرفت لیسی) ګډون وکړ. یاد کمپاین په شپږو ولایتونو (بلخ ، بامیان ، هرات ، کابل ، کندهار او ننګرهار) کې په لاره اچول شوې و. |
| د ښځو او نجونو په وړاندې د مبارزې په موخه د اغیزو، او ملاتړ لپاره، حقوق او د پالیسۍ اړوند اقداماتو ښه والی | • هغه تخنیکي ملاتړ او اډوکسي (advocacy) چې د یوناما او اړوندو مراجعو لخوا وړاندې شو، ددې سبب شو تر څو د متقابل حساب ورکولو چوکاټ له لارې د ځان بسیاینې د تقویت شی، چې د ۲۰۱۵ په سپټمبر کې تصویب شو ، ترڅو د ښځو د حقونو په اړه لنډمهاله او اوږدمهاله اجراات او شاخصونه شامل کړي.<br>• یوناما د جنسي تاو تریخوالي څخه ژغورونکو لپاره د محرم او هراړخیز شکایت میکانیزم رامنځته کولو لپاره د تخنیکي ملاتړ چمتو کولو له لارې د کورنیو چارو وزارت سره نږدې کار کولو ته دوام ورکوي. د مسودې طرحه د وزیر تصویب لپاره وړاندې شوه.<br>• د ښځو د ساتنې د مرکزونو د همغږۍ کمیټې بین الوزارتي میکانیزم چې د ملګرو ملتونو د وجهي صندوق لخوا د ښځو پروړاندې د تاو تریخوالي د کمولو د اقداماتو په ملاتړ ، د ولسمشرۍ دفتر څخه د تذکرو او د ښځو او د هغوی ماشومان د ساتنې مرکزونو مراجعینو ته د پاسپورتونو ورکولو لپاره معافیت ترلاسه شوی. داسې اسناد د کورنۍ د نارینه غړو د رضایت په اساس چمتو کیږي ، کوم چې ډیری وختونه د داسې اسنادو لاسته راوړل د یاد ښځو لخوا امکان نلري. دغه معافیت نه یوازې د ښځو پروړاندې د تاو تریخوالي د قربانیانو لپاره فوري ګټې لري بلکه په قانوني پروسیجرونو کې هم د پام وړ حقوقي رویه منځ ته راوړي ، کوم چې کیدای شي د نارینه او محرم رضایت پرته تګ راتګ په اړه د موجود محدودیتونو لپاره د بدلونونو لپاره زمینه برابره کړي.<br>• د یوناما په مرسته ، دولت د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د منځه وړلو د قانون د پلي کیدو د وضعیت په اړه خپل دریم پرله پسې راپور خپور کړ. دغه راپور د پخوانیو راپورونو موندنې تکراروي او د حکومت لخوا د ترسره شویو اقداماتو په اړه تازه معلومات لکه د ښځو پروړاندې د تاوتریخوالي له منځه وړلو لپاره د څارنوالۍ واحدونو غزول (تر دې دمه تر ۲۰ والیتونو پورې)، د دیني مشرانو سره د پوهاوي لوړول او پرمختګ ، په هرات کې د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د له منځه وړلو لپاره د یوې ځانګړې محکمې وړاندیز، وړاندې کوي.<br>• د اپریل او جون په میاشتو کې ، دولت له ۲۵ تنو څخه ۴ وزارتي پستونو ته ښځې وټاکلې. او دوه میرمنې یې د والیانو په توګه وټاکلې چې یوه یې وروسته د کابل ولایت معاونې په حیث وټاکل شوه. سترې محکمې ته نومول شوې ښځینه نوماندې په پارلمان کې کافي رایې ونه ګټلې. |

| | |
|---|---|
| | • حکومت د ۲۰۱۵ په سپټمبر کې په عامه ژوند کې د ځورونې د مخنیوي په موخه یو مقرره خپره کړه چې د جنسي ځورونې او په عامه ژوند کې د میرمنو ګډون محدودوي هم وړاندې کوي. دا د دوه اړخیزې حساب ورکونې چوکاټ له لارې د ځان بسیاینې په چوکاټ کې د افغانستان حکومت لخوا ژمنه شوې ژمنې هم رامنځته کوي |
| | • تر ۲۰۱۵ کال پورې ، د ښځو د ساتنې ۲۳ عملیاتي مرکزونه شتون درلود، چې ۱۱ یې یعنی په بغلان ، بامیان ، دایکندي ، جوزجان ، کابل ، کندهار ، کنړ ، لغمان ، ننګرهار ، پروان ، سمنګان او تخار ولایتونو کې د ښځو په چارو کې د ملګرو ملتونو د ادارې (UN-Women) لخوا ملاتړ کیږي. د دې ۱۱ ښځینه د ساتنې مرکزونو او پنځه کورنیو لارښود مرکزونو له لارې ، له ۳۵۰۰ څخه ډیر له تاوترخوالي څخه ژغورل شویو ته محافظت ، روغتیایی پاملرنه ، حقوقي مرسته ، منځګړیتوب او نور د ژوند ژغورنې خدمات وړاندې شوي. |
| | • د ۲۰۱۵ کال په اکتوبر کې ، د ملګرو ملتونو د هڅو په نتیجه کې، د افغان میرمنو لپاره د ملي عمل پلان آنلاین ډیټابیس د ښځو چارو وزارت لخوا تصویب شو. د افغانستان حکومت د یوې ژمنې په توګه د دوه اړخیز حساب ورکونې چوکاټ له لارې د ځان بسیاینې په موخه، یاد ډیټابیس د ښځو پروړاندې د تاوتریخوالي د قضیو تعقیب او د قضیو په اړه معلوماتو ته د لاسرسي زمینه برابره شوې ده. |
| د معافیت سره د مبارزې په اړه د حقوقي او پالیسي اقداماتو، او انتقالي عدالت ته د لاسرسی په اړه د پوهې او د هغه سره د ملاتړ ، ښه والي | • په ۲۰۱۵ کال کې ، یوناما د سولې نوښت په اړه د افغانانو د خبرو اترو دریم پړاو ملاتړ ته دوام ورکړ. د افغانستان د خلکو د خبرو اترو ملي کنفرانس، چې د ټول افغانستان څخه د مدني ټولنې فعالینو لپاره یو فارم چمتو کړی و چې د خبرو اترو په لومړي دوه مرحلو کې برخه اخیستې وه، د جنوري په ۱۵، په کابل کې جوړه شوې وه. د دې فارم فعالینو ته وړتیا ورکړه چې د کلیدي موندنو د او د حکومتي چارواکو په شتون کې د سولې لپاره وړاندیزونه او ولایتي لارې نقشې په اړه بحث وکړي. له حکومت څخه غوښتنه وشوه چې د څلور لومړیتوب لرونکو ساحو ملاتړ وکړي ، پشمول د:<br>- د مسؤل دولتي نهادونو وده ، د بشر حقوق او د قانون حاکمیت ، او د معافیت کلتور او پراخ اداري فساد سره مبارزه؛<br>- د امنیتي ارګانونو پیاوړي کول او د غیر قانوني وسله والو ډلو او نورو حکومتي ملیشو بې وسلې کول او کمزوري کول. |
| | • په ۲۰۱۵کال کې ، د ولایتي مدني ټولنې ۳۲کمیټې چې ۳۶۲ نارینه غړي (۷۴ سلنه) او ۱۲۷ ښځینه غړې (۲۶ سلنه) لري، جوړه شوې وې چې د سولې لپاره د ملي طرحو په اړه له چارواکو سره |

| | |
|---|---|
| | اډوکسي سره وکړي او د افغانستان د خلکو د خبرو اترو د دوهم پړاو لنډيز او د سولې لپاره د ولايتي طرحو لنډيز په اړه بحث وکړي.<br><br>• په ۲۰۱۵ کال کې ، د ولايتي اډوکسي کميټو په ۳۲ واليتونو کې ۲۷۸د اډوکسي ناستې ترسره کړې تر څو ولايتي چارواکي، د قانون د تنفيذ کوونکو ادارو رييسان، امنيتي چارواکي او د عامه خدمتونو وړاندې کوونکي وهڅوي ترڅو د بشر حقونو او قانون حاکميت ته درناوی رامنځته کولو لپاره اصلاحات رامنځته کړي. د سولې لپاره ۳۴ ولايتي طرحې د ۲۰۱۶ کال په پيل کې د خپرولو په موخه په دري او پښتو وژباړل شوې.<br><br>• افغانستان د ۲۰۱۵ کال د جون په مياشت کې د امنيت شورا د ۱۳۳۵ شميرې پريکړې (۲۰۰۰) په هکله د خپل ملي عمل پلان تاييد کړ. د ۲۰۱۵ کال په ډسمبر کې د تطبيق پلان په پراختيا کې د پام وړ پرمختګ شوی وو. د معافيت سره د مبارزی د حساب ورکولو رسمي ميکانيزمونو تقويه کول او د څارنواليو تګلارو کې اصلاح راستولو په شمول، د ملي عمل پلان هغه برخې تر پوښښ لاندې نيسي چېرته چې د ښځو د حقونو د پام وړ پرمختګ ترلاسه کيدی شي. که چيرې په سمه توګه پلې شي ، نو پلان کولی شي د ميرمنو حقونو ته وده ورکولو او عدالت ته د لاسرسي يوه وسيله شي. |
| دولت د بشري حقوقو د نړيوالو ميثاقونو او کنوانسيونونه په اړه د حکومت د راپور ورکولو اړتياوې بشپړول او د افغانستان په اړه د بشري حقونو د شورا د نړيوالي دوره يي بياکتنې د سپارښتنو پلې کول | • د عدليې وزارت د بشري حقونو د ملاتړ څانګې په۲۰۱۴ کال کې افغانستان ته د ورکړل شوي ټول نړيوال دورې بياکتنې وړانديزونو او د بشري حقونو د تړونونو ادارو وړانديزونو پلې کولو ته ادامه ورکوي.<br>• د بشري حقونو د ملاتړ څانګې د ټولو وړانديزونو لپاره مفصل جدول رامنځته کړی او په مشخصو کړنو او پرمختګ يا لاسته راوړنې شاخصونو کې يې ويشلې کړی. د مشخصو مسلو په اړه اډوکسی، لکه په توقيف کې صحي پاملرنې ته لاسرسی، د پل چرخي په محبس کې طبي خدماتو کې د پام وړ پرمختګ لامل شوی.<br>• د ۲۰۱۵ کال د مارچ له ۷ څخه تر ۱۱ پورې ، د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کميشنر دفتر د کارپوه لخوا پنځه ورځنۍ روزنيزی ناستې د عدالت او بشري حقونو په برخه کې په افغانستان د UNDP د بشري حقونو د ملاتړ څانګې په همکاری نهه کارپوهانو ته ورکړل شوې وه. د روزنې هدف د اړوندو کارمندانو ظرفيت لوړوالې ده ترڅو د نړيوالې دورې بياکتنې څخه راپورته شوي وړانديزونو پلې کولو کې د وړتياو تشو ته رسيدګي وکړي.<br>• د ۲۰۱۵ کال په سپتمبر کې ، د بشري حقونو د ملاتړ څانګه د بشري حقونو د نړيوالو معيارونو او نورمونو له ليدلوري څخه د افغانستان د قوانينو د ارزونې او تعديل وړانديز کوي چې په کې د کار قانون، د ښځو پروړاندې د تاوتریخوالي د له منځه وړلو قانون، د ماشومانو قانون او د جزايي اجرااتو قانون شامل دي. سريره |

| | |
|---|---|
| | پردې ، دا د نړیوالي دورې بیاکتنې او د ملګرو ملتونو د تړون ادارې وړاندیزونو پلي کولو په ځانګړې توګه د عدلیې وزارت ، کورنیو چارو وزارت ، لوی څارنوال دفتر، د افغانستان د بشر حقونو خپلواک کمیسیون ، د ملي امنیت ریاست او د ښځو چارو وزارت لخوا او د شاخصونو بیاکتلو کې بوخت دی. |
| | • د ۲۰۱۳ په جولای کې په پنځه پنځوسمه ناسته کې د افغانستان په ګډ لومړني او دوهم دوره یي راپورونو کې د ښځو په وړاندې د تبعیض د لمنځه وړلو د کمیټې د نظریاتو سره په مطابقت کې ، یو کاري ځواک چې د بهرنیو چارو او ښځو چارو وزارتونو ، د عدلیې او دفاع وزارتونه ، ستره محکمه ، د ټاکنو خپلواک کمیسیون او لویه څارنوالي څخه جوړ شوی د UN-Women په ملاتړ سره د ۱۱ او ۲۳ شمیرو سپارښتنو پلي کولو ګامونو په اړه لنډمهاله راپور تیار کړ. راپور د عدلیې وزارت ته وسپارل شو. کمیټې ته د نهایي سپارلو دمخه د وروستي بیاکتنې لپاره یاد راپور د ۲۰۱۶ کال د جنوري په ۱۶ نیټه، مالیې وزارت ته وړاندې شو. |
| | • د یاد راپور چمتو کولو په وخت کې ، دوهم ملي راپور چې د ۱۹۹۶کال راهیسې د شکنجې پروړاندې کمیټې ته وسپارل شي، د یوې بین اداراتي کمیټې لخوا بشپړیدو ته نږدې و. د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون څخه تمه کیږي چې خپل راپورونه وړاندې کړي؛ او مدني ټولنه څخه هم تمه کیږی چې خپل موازي راپورونه وړاندې کړي. |
| | • د 2015 د دسمبر په 22 ، د کورنیو چارو وزارت په مزارشریف کې د ماشومانو د خوندیتوب پنځم واحد پرانست. دا د ماشومانو د ساتنې لومړی واحد دی چې له ۲۰۱۱ کال راهیسی تاسیس شوی دی. لومړی څلور د افغانستان په لویدیځ کې تاسیس شوي. |
| د افغانستان د حکومت او د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون مخ پر زیاتیدونکې ظرفیت او ژمنتیا، د بشري حقونو د ملي ادارې په حیث، د بشري حقونو درناوی،ساتنه، تحقق او ترویج | • د بچه بازۍ په اړه د عدالت غوښتنې(اډوکسی) کمیټه چې د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون په مشرۍ د ملګرو ملتونو د ماشومانو وجهي صندوق (یونیسف) او یوناما په ګډه په ۲۰۱۵ کال کې داسې قانون جوړ کړ چې بچه بازي منع او جرم وګنه . بچه بازي هغې کړنې ته وایې چې په کې پر کوچني هلکانو جنسي تېري هم شامل دي. یادې کمیټې د قانون مسوده عدلیې وزارت ته د نهایي بیاکتنې او تایید لپاره وسپارله او بیا د وزیرانو شورا او پارلمان لخوا تصویب شو. د قانون مسوده د جزا قانون په پراخه بیاکتنه کې د احتمالي شمولیت لپاره په پام کې نیول شوې وه.<br>•<br>• د سپتمبر په ۲۳ ، ولسمشر د لوی څارنوالۍ دفتر، کورنیو چارو وزارت او د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون څخه تشکیل شوې کمیټه جوړه کړه ترڅو د ماشومانو جنسي تیریو پر ادعاګانو نظارت او تحقیق یې وکړي. |

| | |
|---|---|
| | • یوناما په وسله واله جګړه کې د ماشومانو د ساتنې په اړه د افغان ملي امنيتي ځواکونو حساسيت او روزنې ته دوام ورکوي، په ځانګړي توګه کم عمره ماشومانو د ګمارنې مخنيوي لپاره د عمل پلان او د افغانستان د حکومت مسؤليتونو ته په پام سره . د افغانستان دولت ژمنه کړې ترڅو هغه ۱۵ مورد لرونکي پلان چې په کې د مطابقت لپاره د د نقشې لاره شامله ده. پرمختګ د ۲۰۱۵ د دسمبر په میاشت کې د افغانستان ملي امنيتي ځواکونو لپاره د عمر ارزونې لارښوونې تاييد کول چې د ياد قانون له مخې کم عمره ماشومانو د ګمارنې او استفاده جرم ګڼل، د قانون پلي کولو د برخې په توګه، شامل دي. |

**پنځم. اقتصادي او ټولنيزه پراختيا**

**معيار: د حکومت پاليسۍ ګانې چې د نړيوالې ټولنې له خوا يې ملاتړ کيږي، کوم چې پايښت لرونکي اقتصادي رشد ته وده ورکوي او په ټوله کې ثبات سره مرسته کوي.**

| *د پرمختګ شاخصونه* | *مقياسونه* |
|---|---|
| د ملي لومړيتوب پروګرامونه د نړيوال ملاتړ په تاييد سره ډيزاين او پلي کيږي | • په ۲۰۱۵ کال کې، د افغانستان د ولسمشر په مشرۍ بيلابيلو وزارتونو خپل د-۱۰۰-ورځو پلانونه د مؤثره ، ځواب ويونکي او حساب ورکونې حکومتدارۍ لپاره چمتو کړل. ياد پلانونه د مطبوعاتي کنفرانسونو له لارې پيل شول. دې اقدام د حکومتدارۍ ، حساب ورکونې او روڼتيا د ښه کولو لپاره د حکومت د هڅو په پام کې نيولو سره د عامه او داخلي او نړيوالو شريکانو توقعات لوړ کړل.<br><br>• د اپريل په ۷ ، ولسمشر د افغانستان په اړه د لندن په کنفرانس کې د اصلاحاتو اجنډا په پام کې نيولو سره د حکومت او د هيواد د وګړو ترمنځ د ټولنيز تړون رامنځته کولو لپاره نوښت اعلان کړ. د کابينې په لومړۍ غونډه کې ، د اپريل په ۲۳ ، ښاغلي غني وزيرانو ته لارښوونه وکړه چې د دوی د لومړي ۱۰۰ ورځو لپاره به په دفتر کې تګلاره جوړه کړي. د مې په ۲۶ ، د کابينې په يوه فوق العاده غونډه کې ، ښاغلی غني د وزارتونو لخوا د دې پلانونو پيل اعلان کړ ، کوم چې د ۲۰۱۵ اګست کې ترسره شوی و.<br><br>• دولت د پراختيايي مديريت جوړښتونو پلان شوی اصلاحات هم تعقيبوی. د پراختيايي شوراګانو شپږ شوراګانې (د بشری سرمايې پراختيا؛ ساختماني او زيربنايي، مالي او اقتصادی مديريت ، سيمه ايز اقتصادی همکاری ، حکومتداری او عدالت؛ او د ځمکې او اوبو مديريت) د ۱۲ ملی لومړيتوب برنامو نظارت لپاره د کابينې د سپتمبر په ۲ ناسته کې رامنځته شوی. د دې شوراګانو څلور (عالي اقتصادي شورا؛ د بشري پانګې اچونې او استخدام شورا ، د زيربنا |

| | |
|---|---|
| | او ساختماني شورا او د سيمه ييزې همکارۍ شورا) جوړې شوي دي.<br><br>• د افغانستان د امنيت شورا لخوا چمتو شوي طرحې او د ۲۰۱۵ کال د سپتمبر په مياست کې د عدليې وزارت او لوی څارنوالۍ د عالي رتبه مقاماتو غونډې څخه د مخه ، حکومت د نومبر په مياشت کې د عدلي او قضايي اصلاحاتو لپاره د ملي برنامې يوه کميټه جوړه کړه چې مشري يې د اداري چارو رياست کوي. کميټې ته دنده ورکړل شوې وه چې د وزارتونو ارزونه ترسره کړي.<br><br>• حکومت د لندن کنفرانس ژمنه (د "ځان پيژندنې تحقق کول: د اصلاحاتو او نوي همکارۍ ژمنې" اجندا) د ملي لومړيتوب برنامې پياوړي کولو او د دوی شمير د ۲۱ څخه ۱۲ ته راټيټولو لپاره تعقيب کړ. د سپتمبر په ۵ د لوړ پوړو چارواکو په ناسته کې، حکومت ژمن شو چې د ملي لومړيتوبونو څلور برنامې (د منشور شهروندی ، ښاري پراختيا ، د کليو پراختيا او د ښځو اقتصادي پياوړتيا باندې) په پراختيا چوکاټ کې شامل کړي ، چې د ۲۰۱۶ کال په لومړۍ نيمايي کې به د کابينې لخوا وڅيړل شي. |
| په ټول افغانستان کې د پرمختيايي مرستو او حکومتي لګښتونو مساوي ويش | • د ولايتي بوديجې پاليسي د وزيرانو شورا لخوا د اکتوبر په ۵ تاييد شوه. دغه پاليسي د اساسي قانون او نورو نافذه قوانينو سره په مطابقت کې د قانوني چوکاټ په حدودو کې د پلان جوړونې، تشکيل ، پلي کولو او څارنې غير متمرکز کول هڅوي. د دې پاليسۍ تمرکز د ملي بوديجې کارول د محلي حکومتدارۍ پياوړتيا لپاره دي ترڅو د ولايت په کچه ټولنې پياوړې شي. |
| د افغان سرچينو پر بنسټ د عايداتو زياتوالي او دوامداره وده | • تازه تحليل کونکي د نړيوال بانک ګروپ د ۲۰۱۵ پسرلي غونډو څخه څه موده وړاندې خپاره شوي، د پيسو نړيوال صندوق (نړيوال وجهي صندوق) او نړيوال بانک د ۲۰۱۴ ودې اټکل د ۲۰۱۴ لپاره ۱.۳ سلنې ته راټيټ کړی. د جنوري په ۵ ، د نړيوال وجهي صندق مرسته کونکو ته خبر ورکوي چې دا اوس مهال په ۲۰۱۵کال کې د ناخالص کورني توليد (GDP) وده اټکل ۱.۵ سلنه وه، چې د پخوانيو اټکلونو څخه ټيټوالی ښه يې چې ۱.۵ سلنه وه (د ۲۰۱۵ کال په سپتمبر کې ۲ سلنې ته تنظيم شوې).<br><br>• د ۲۰۱۶ کال په جنوري کې ، حکومت راپور ورکړ چې د ګمرکونو عايد د ۲۰۱۴کال د دسمبر راهيسې په سلو کې ۱۷ او د نويو ماليه ورکونکو په ثبت کې ۲۴.۵ سلنه ډېروالی راغلی دی. نړيوال وجهي صندوق تمويلوونکو ته په يوه ناسته کې وويل چې په ۲۰۱۵ کال کې د کورنيو عايداتو راټولول نسبتا پياوړي وو ، که څه هم اهداف کم شوي وکله چې د ودې تخمين تنظيم شوې وې او چارواکې د نوي عوايدو اقداماتو پلي کولو کې ځنډ سره مخ و. په ځانګړي توګه، داسې بريښي چې د کورني عايد راټولول د ۱۱۴ ملياردو |

| | |
|---|---|
| | افغانانو اوسني هدف پوره کوي (د اوسني تبادلې نرخ نږدې ۱.۶ ملیارده امریکایي ډالر) چې د دسمبر د مالي راپورونو له ترلاسه کېدو او بیاکتنې وروسته د نهایي کېدنې سره مخ کېږي. دا د افغانستان د عوایدو ریاست او د افغانستان د ګمرکونو ریاست کې اصلاحاتو، د عوایدو نوي اقدامات او د مالیې نه ورکولو څخه معافیت د عواملو په توګه بلل شوي دي.<br><br>• د عامه مالي مدیریت سمون روان دی. د عامه مالي مدیریت دویمه طرحه د ۲۰۱۵ ډسمبر کې په لاره اچول شوې وه او ریاستونه د دوی پنځه کلن پلان د وړاندې کولو په مرحله کې دي. |

**شپږم: سیمه ییزه همکاري**

**معیار: د سوکالۍ، سولې او ثبات په ملاتړ پایښت لرونکې او موثره سیمه ییزه همکاري.**

| *د پرمختګ شاخصونه* | *مقیاسونه* |
|---|---|
| د سیمه ایزو ارګانونو په همغږۍ ښه والي او د سیمه ییزو پانګونو زیاتوالي | • د ۲۰۱۵ کال د جنوري په ۱۴، ولسمشر غني متحده عربي اماراتو ته سفر وکړ. د امنیت ، مدني محافظت او له تروریزم سره د مبارزې په هکله "د اوږدمهاله ستراتیژیکو همکاریو تړون" لاسلیک شو. د جنوري په ۲۱ او ۲۲ ، ښاغلی غني ترکمنستان ته سفر وکړ ، چیرې چې هغه د سیمه ایزې انرژۍ او ترانسپورت ارتباطاتو په اړه بحث وکړ. لاسلیک شوي سندونو کې د برېښنا په برخه کې د همکارۍ نورې پراختیا په اړه د تفاهم یادداشت هم شامل دی. د اپریل په ۱۹ او ۲۰ کې، ښاغلی غني د ایران اسلامي جمهوریت څخه لیدنه وکړه. دواړو هیوادونو موافقه کړې چې د تروریزم او مخدره توکو قاچاق په مخنیوي کې به استخباراتي او امنیتي همکاریو کې برخه واخلي. د ایران په اسلامي جمهوریت کې د ټولو افغانانو د نوم لیکنې په اړه هوکړې ته ورسیدل. د اپریل له ۲۷ څخه تر ۲۹ پورې ، ښاغلی غني هند ته سفر وکړ. پنځه تړونونه لاسلیک شول. د نومبر په ۲۰، ښاغلي غني قزاقستان ته سفر وکړ ، چیرې چې هغه د دوه اړخیزو سوداګرۍ ، سیمه ایز امنیت او د تروریزم پرضد د همکاریو په هکله خبرې وکړې. افغانستان او قزاقستان دوه هوکړه لیکونه او درې د تفاهم یادداشتونه لاسلیک کړل. د دسمبر په ۲۲ ، ښاغلي غني له اذربایجان څخه لیدنه وکړه. دواړو خواو د اذربایجان له لارې له چین څخه د ترانزیتي لارې په ګډون د همکاریو د زیاتوالي په اړه ربا واچوله او د تفاهم یادداشت یې لاسلیک کړ. د دسمبر په ۲۳ او ۲۴، ښاغلی غني ترکیې ته سفر وکړ. د ترکیې ولسمشر له افغانستان سره د پوځي ، سیاسي، اقتصادي ، سوداګریزو او فرهنګي همکاریو د دوام ژمنه وکړه. درې سندونه لاسلیک شول.<br>• د سپتمبر په ۲۶ ، افغانستان ، چین او د امریکا متحده ایالاتو په نیویارک کې د عمومي اسامبلې غونډې په څنډه کې د افغانستان په اړه د لوړې کچې غونډې مشري وکړه. د افغانستان اجرائیه رییس ، |

عبدالله عبدالله د سولې په تعقیب او د سیمې له اقتصادي ظرفیت څخه د ګټې اخیستنې په هکله د هیواد غبرګه ستراتیژي روښانه کړه.

- د نومبر په ۳۰ ، ښاغلي ولسمشر غني او د پاکستان لومړي وزیر نواز شریف د اقلیم د بدلون په اړه د ملګرو ملتونو د چوکاټ کنوانسیون د شپاړسمې غونډې په څنډه کې چې په پاریس کې جوړه شوې وه ، د سولې پروسې په اړه خبرې وکړې. پاکستان ژمنه وکړه چې د افغانستان او هغو خلکو سره کار وکړي چې پخلاینه یې غوارړي او د هغو کسانو پر ضد به عمل کوي چې سوله ردوي.
- د دسمبر په ۲۷، د پاکستان د پوځ لوی درستیز راحیل شریف افغانستان ته سفر وکړ. دواړو خواو موافقه وکړه چې د افغانستان حکومت او طالبانو ترمنځ د افغانستان - پاکستان - چین - متحده ایالاتو څلور اړخیز چوکاټ کې د سولې خبرو لپاره کار وکړي.

د آسیا زړه - استانبول پروسې لاندې، چې افغانستان یې په مشترک ډول ریاست په غاړه لري ، برخه اخیستونکو هیوادونو د باور جوړونې تدبیرونو وړاندې کولو په موخه غونډه وکړه. د فبروري په ۲۷ ، د آسیا-استانبول زړه پروسې د سیمه ایز زیربنایی باور جوړونې تدابیر په اړه د سیمه ایز تخنیکي ډلې یوه غونډه په عشق آباد کې جوړه شوه. د مارچ په ۱۱ ، په انقره کې د آسیا-استانبول د زړه پروسې د تروریزم پروړاندې د باور جوړونې تدبیرونو په هکله د سیمه ایز تخنیکي ډلې یوه غونډه جوړه شوه. د اپریل په ۲۹ ، په باکو کې د آسیا-استانبول د زړه پروسې د نشه یی توکو ضد سیمه ایز تخنیکي ګروپ د غونډې جوړه شوه چې د آسیا زړه-استانبول پروسې د جوړونې تدبیرونه رامنځته کوي ، د ۲۰۱۵ کال لپاره د نشه یی توکو پرضد د ۱۲ لومړیتوبونو په هکله موافقه وشوه. د سپتمبر په ۸ ، په اسلام آباد کې د آسیا - استانبول د پروسې د زړه د پیښو د مدیریت د باور جوړونې تدبیرونو د سیمه ایز تخنیکي ګروپ په غونډه کې ، د اعتماد جوړونې اقداماتو لپاره د طرحې موافقه وشوه. د سوداګرۍ ، تجارت او پانګوونې فرصتونو د اعتماد جوړولو تدبیرونو په اړه د سیمه ایزی تخنیکي ډلې دوه غونډې د هند په ډهلي کې د اکتوبر په ۱ او نومبر په ۱۹ ترسره شوې. د نومبر په ۲۳ ، په تهران کې د معارف باور جوړونې اقداماتو په اړه د سیمه ایزی تخنیکي ډلې یوه غونډه جوړه شوه.

- د سپټمبر په ۲۷ ، د آسیا - استانبول پروسې د زړه یوه لوړ پوړه غونډه په نیویارک کې د عمومي مجلس د غونډې په څنډه کې جوړه شوه. د ډسمبر په ۸، د اسیا - استانبول پروسې د زړه د څارواکو غونډه په اسلام آباد کې جوړه شوه.
- د ډسمبر په ۹ ، په اسلام آباد کې د آسیا د زړه هیوادونو پنځم کنفرانس ترسره شو. ښاغلی غني د پاکستان له لومړي وزیر سره ګډ کنفرانس په ګډه پرانست. د ۲۰۱۵ کال د اسلام آباد اعلامیه پر وسله والو طالبانو او نورو وسله والو مخالفینو غږ کوي چې له افغان حکومت سره د سولې په خبرو کې برخه واخلي ، او د سیمه ییز امنیت او د تروریزم پرخلاف د مبارزې همکارۍ پر اړتیا ټینګار کوي. د کنفرانس په څنډه کې ، ښاغلی غني او ښاغلی شریف دوه اړخیزه

لیدنه وکړه ، او د متحده ایالاتو او چین سره درې اړخیزې او څلور اړخیزې غونډې یې وکړې ، چې ټولو موافقه وکړه چې د سولې خبرو اترو د بیا پیل کیدو لپاره به په ګډه کار کوي.

- د مارچ په ۱۱ ، له پاکستان څخه د افغان مهاجرینو د داوطلبانه راستنیدو لپاره د درې اړخیز کمیسیون پنځمه ناسته په اسلام آباد کې جوړه شوې وه ، چې د افغانستان ، پاکستان استازو او د ملګرو ملتونو د کډوالو عالي کمیشنرۍ دفتر (UNHCR) په ګډون جوړه شوه. د افغانستان جذب ظرفیت په پام کې نیولو سره، ګډون کوونکو موافقه وکړه چې د داوطلبانه بیرته ستنیدو او د مهاجرینو د مجدد ادغام څخه ملاتړ وکړي. پاکستان موافقه وکړه چې ټول بې سنده افغان کډوال ثبت کړي. یو شپږ کسیزه دوه اړخیزه کمیټه جوړه شوه.
- د اپریل په ۹ او ۱۰ ، د پاکستان - افغانستان - تاجیکستان درې اړخیز ترانزیت او سوداګرۍ تړون مسودې په اړه کاري ډلې په دوشنبه کې د تړون مسودې په اړه بحثونه نهایي کړل. لورو د ترجیحي تجارت موافقې ، د سوداګرۍ ګډې شورا او د پولې دواړو غاړو ته د لوجستیکي او اداري همکاریو په اړه هم خبرې وکړې. د اپریل په ۲۴ ، افغانستان ، قرغیزستان ، پاکستان او تاجیکستان د مرکزي آسیا - سویلي آسیا د بریښنا لیږد او سوداګرۍ پروژې پلي کولو لپاره د داوطلبي وروستي سندونه لاسلیک کړل. د می په ۹ ، افغانستان او ازبکستان د سوداګرۍ ، بریښنا انجینرۍ ، او ترانسپورټ او ترانزیت په برخو کې د دوه اړخیزو همکاریو پروتوکول لاسلیک کړ. د دسمبر په ۱۲ او ۱۳ کې ، ښاغلی غني د ترکمنستان له ولسمشر ، د پاکستان لومړي وزیر او د هند له مرستیال ولسمشر سره په ګډه په ترکمنستان کې د ترکمنستان - افغانستان - پاکستان - هندوستان د پایپ لاین د پروژې د افتتاح په مراسمو کې ګډون وکړ.
- د اګست په ۲۷ ، د ترکمنستان ولسمشر کابل ته سفر وکړ. افغانستان او ترکمنستان دوه هوکړه لیکونه، درې د تفاهم یادداشتونه او یو ګډه اعلامیه لاسلیک کړل. افغانستان ته د برښنا په رسولو کې ترکمنستان پنځه چنده زیاتوالي باندې هوکړه وکړه.
- د نومبر په ۳ ، د چین د ولسمشر مرستیال افغانستان څخه لیدنه وکړه. افغانستان او چین درې تړونونه لاسلیک کړل. په سیمه ایز ارتباط کې د چین ډیرو پانګوونې او په ځانګړي توګه د می په میاشت کې د چین پاکستان اقتصادي دهلیز په اړه ، مرستیال ولسمشر د ګاونډیو هیوادونو سره د افغانستان د زیربنایي اړیکو ملاتړ ته چمتووالی څرګند کړ.
- د سپتمبر په ۴ ، د افغانستان لپاره د سیمه ایزی اقتصادي همکارۍ شپږم کنفرانس په کابل کې جوړ شو. په خپله وینا کې ، ښاغلي غني د افکارو ، خلکو او توکو د "څلور لارې" په توګه د افغانستان هدف تکرار کړ.
- د دسمبر په ۱۷ ، د سوداګرۍ نړیوال سازمان په سازمان کې د افغانستان غړیتوب تصویب کړ.

| | |
|---|---|
| | • د دسمبر په ۲۵ ، د هند لومړي وزير افغانستان ته سفر وکړ. هند او افغانستان د ايران له اسلامي جمهوريت سره د درې اړخيزو همکاريو د سيمه ايزې اړيکي او راتلونکي په اهميت ټينګار کوي.<br>• د نومبر په ۲۳ ، د پاکستان - افغانستان ګډ اقتصادي کميسيون لسمه ناسته په اسلام آباد کې جوړه شوه.<br>• د مې په ۱۹ ، په کابل کې ، افغانستان او د شانګهای همکاريو سازمان د همکارۍ يو پروتوکول لاسليک کړ. د جولای په ۹ او ۱۰ ، ښاغلی ولسمشر غني د روسيي فدراسيون کې د شانګهای همکاريو سازمان د هيوادونو د رييسانو د شورای په غونډه کې برخه واخيسته ، چيرې چې هغه د تروريزم او مخدره توکو قاچاق په نښه کولو لپاره د يوې سيمه ايزې تګلارې غوښتنه وکړه. د دسمبر په ۱۴ او ۱۵ ، ښاغلی عبدالله په چين کې د شانګهای د همکاريو سازمان د رئيسانو په غونډه کې ګډون وکړ ، چې موخه يې د افغانستان او نورو ناظرينو هيوادونو په ګډون د سيمه ايزې اقتصادي ودې او همکارۍ هڅول دي. افغانستان په سازمان کې د بشپړ غړيتوب لپاره غوښتنه وکړه. |

**اووم. د افغانستان او نړيوالې ټولنې تر منځ مشارکت**

**معيار: د افغانانو تر رهبرې لاندې د همغږې په چوکاټ کې د افغان لومړيتوبونو لپاره د نړيوالې ټولنې له خوا منسجم ملاتړ**

| *د پرمختګ شاخصونه* | *مقياسونه* |
|---|---|
| د افغانستان د ملي پراختيايي ستراتيژي او د حکومت د لومړيتوبونو سره په مطابقت د مرستو د سلنې زياتوالی | • حکومت د ۲۰۱۲-۲۰۱۴ پرمختيايي همکاريو راپور نهايي کولو لپاره د پراختيا د همکارۍ درې کلنو خبرو اترو ته کتنه کړې. د راپور په مهمو موضوعاتو کې د ساحاتو د تعريف په پام کې نيولو سره د ننګونو پيژندل ، د مرستندويانو او حکومت تر منځ د هماهنګي د سلنه اټکلونو د توپيرونو په پام کې نيولو او د ملي لومړيتوب ادغام روان بهير شامل دي. د ۲۰۱۶ کال د پراختيايي همکاريو خبرو لپاره پلانونه جوړ شوي وو ، چې تمه کېده د ۲۰۱۲-۲۰۱۴ انکشافي همکاريو راپور د وړانديز سره په سمون کې به د هماهنګۍ تعريف تعريف شي. دولت اوس مهال د ملي پرمختيا نوې شوې ستراتيژي رامنځته کولو لپاره هڅې کوي چې د بشپړيدو او منل کيدو وروسته به د همغږۍ ارزونو باندې اغيزه ولري. |
| د دولت او نړيوالې ټولنې په استازيتوب د تدارکاتو او قرارداد په اړه د حساب ورکونې بهتر کيدل | • د ملي تدارکاتو کميسيون، چې "د ځان بسايني ته رسيدل" کې پيش بيني شوی و د ۲۰۱۵ کال په مارچ کې رامنځته شو. د متقابل حساب ورکونې چوکاټ (SMAF) له لارې د ځان بسيايني پرمختګ په اړه تازه معلومات ، چې د ۲۰۱۶ کال د جنوري په ۱۸ کې خپور شوی ، تاييدوي چې کميسيون د ۲۰۱۵ کال تمديد شوي تدارکاتو قانون لاندې نهه خدماتي معيارونه خپل کړي ، چې د چوکاټ ۴ شاخص سره سم دي: د ملي تدارکاتو کميسيون د ۲۰۱۶ کال په دوهم نيمای کې د ۲۰۱۹ د تدارکاتو قانون (لکه چې اصلاح شوی) له مخې د خدماتو معيارونه خپلوي او پلي کوي. " |

| | |
|---|---|
| • د افغان لومړیتوبونو او دوه اړخیزو ژمنو په اړه د پرمختګ د منظمې ارزونې د یوې وسیلې په حیث د کابل د پروسې د ملاتړ په برخه کې د ګډې همغږۍ او بیاکتنې د هیئت پیاوړتیا | • حکومت په ۲۰۱۵ کال کې د ملي تدارکاتو کمیسیون لاسته راوړنو په اړه څو تازه معلومات وړاندې کړل ، چې د موثریت لاسته راوړنې یې ښيي. د ۲۰۱۶ کال په جنوري کې د وروستي تازه معلوماتو له مخې ، د کمیسیون جوړیدو په ګډون ، د تدارکاتو اصلاحاتو له امله شاوخوا ۱۳۲ ملیون امریکایي ډالر بسپنه شوي. حکومت دا هم راپور ورکړی چې پدې وروستیو کې یې د کورنیو چارو وزارت لپاره ۱۵ قراردادونه د ۱.۲۱۶ ملیارد افغانیو (۱۷.۷ ملیون ډالرو) لپاره په یوه ناسته کې تصویب کړي ، چې پدې سره ۲۱۲ ملیونه افغانۍ (۳ ملیونه امریکایي ډالر) خوندي کړي. د ۲۰۱۵ په نومبر کې، حکومت راپور ورکړ چې ۳۲ شرکتونه د ۲۰۱۵ له فبروري څخه تر نومبر پورې بندیز شوي او ۲۲ نور یې د بندیز لپاره په پام کې نیول شو ، په تیرو ۴۲ میاشتو کې د ۳۵ شرکتونو پروړاندې اقدامات تر سره شوي. |
| • د کابل پروسې په ملاتړ او د لومړیتوبونو او دوه اړخیزو ژمنو په اړه د منظمې بیاکتنې د تسهیلولو د یوې وسیلې په توګه د همغږۍ د ګډ بورډ پیاوړي کول | • په ۲۰۱۵ کې ، د همغږۍ د نظارت ګډ بورډ نقش د بروکسل د وزیرانو کچې پراختیایي کنفرانس دمخه د موافقې په جلبولو کې پشمول، د دولت او تمویلوونکو لخوا په څو ځله بیا تایید شو. حکومت خپله اراده په ګوته کړې چې د ۲۰۱۶ کال د بورډ دوه غونډې د افغانستان په اړه د ۲۰۱۶ نړیوال کنفرانسونو (دناټو غونډه چې په جولای کې په وارسا کې جوړیږي او د بروکسل د وزیرانو په کچه پراختیایي کنفرانس) .<br>• د سپټمبر په ۵ ، حکومت او د هغې نړیوالو ملګرو د دوی انکشافي ملګرتیا یوځل بیا تایید کړه او د ټوکیو دوه اړخیز حساب ورکولو چوکاټ یې تازه کړ ، چې اوس د دوه اړخیزې حساب ورکونې چوکاټ له لارې پر ځان بسیاینې په نوم یادیږي. د ۲۰۱۴ کال لندن کنفرانس کې چې د "ځان بساینې تحقق" تر نامه لاندې د حکومت د اصلاح اجنډا برخو کې جوړول ، په چوکاټ کې یوه ضمیمه شامله ده چې د ۲۰۱۶ کال تر پایه د لنډمهاله شاخصونو په توګه پیژندل کیږي. دغه شاخصونه ، او په عمومي اصلاحاتو کې پرمختګ ، په بروکسل کې به د ۲۰۱۶ کال د وزیرانو په کچه پراختیایي کنفرانس ته د رهبرۍ خبر ورکړي.<br>• د ۲۰۱۵ کال په جریان کې ، د مرستندویه ادارو همغږي کونکي ډلې په منظم ډول سره غونډې ته دوام ورکړ ، چې د تمویل کونکي غونډې د یوناما په کوربتوب او د تمویل کوونکو-حکومت ګډه ناستې د مالیې وزارت لخوا کوربتوب یې ترسره کیده. منظمې ناستې ، د لوی بسپنه ورکونکو د فرعي ټولګیو کاري غونډو سره ، د پراختیایي پرمختګ رواني بیاکتنې او د حکومت او تمویلوونکو متقابلو ژمنې ملاتړ کوي.<br>• د مدني ټولنې ګډه کاري ډله د ۲۰۱۲ په جولای کې د افغانستان په اړه د توکیو کنفرانس څخه وروسته د لوړې کچې پراختیایي غونډو او کنفرانسونو کې د افغانستان مدني ټولنې نمایندګي وکړه. د مرستې ژمنې باندې پرمختګ څارلو کې د دې نقش د سپټمبر په ۵ د لوړ پوړو چارواکو په ناسته کې د ولسمشر اداري دفتر سره "دوه اړخیزه همکارۍ میکانیزم" په لاسلیک کولو سره تایید شو. د مدني ټولنې ګډه کاري ډلې له هغه وخته د متقابل حساب ورکولو چوکاټ له لارې د |

| | |
|---|---|
| | ځان بسیاینې ژمنې پروړاندې د ارزونې لپاره د نظارت د یوه وسیله رامنځته کړې. |

**اتم: د نشه يي توکو سره مبارزه**
**معيار: د ترياکو د کښت ، د مخدره توکو د توليد او په مخدره توکو په اعتياد کې پايښت لرونکی کمښت**

| *د پرمختګ شاخصونه* | *مقیاسونه* |
|---|---|
| د ترياکو د کښت، مخدره توکو د توليد او اعتياد په ميزان کې کمښت | • تر کښت لاندې د اټکل ۱۸۳۰۰۰ هیکتاره ځمکې په درلودلو سره، په ۲۰۱۵ کال کې په افغانستان کې د ترياکو کښت ۱۹ سلنه کم شوی، په داسې حال کې چې په ۲۰۱۴ کال کې د ترياکو کښت په ۲۲۴۰۰۰ هیکتاره ځمکه کرل شوې و. په ۲۰۱۵ کال کې د ترياکو توليد ۳۳۰۰ ټنه اټکل شوی و ، چې په ۲۰۱۴ کې د توليد شوي ۶۴۰۰ ټنو په پرتله ۴۸ سلنه کمښت استازيتوب کوي.<br><br>• په ۲۰۱۵ کال کې، د ترياکو نرخونه د هيواد په ټولو سيمو کې لوړ شوې چې لامل يې په عرضه کې ټيټوالي دې. . نږدې ۰.۵۷ میلیارده امريکايي ډالره یا د افغانستان د داخلي نا خالص توليد د نږدې ۴ سلنې معادل، د تیر کال په حواله(د انفلاسيون لپاره نه دې تنظيم شوې) په ۲۰۱۴ کال کې په کرونده کې د ترياکو د توليد ارزښت ۴۸ سلنه کم شوې.<br>• په افغانستان کې د کوکنارو څخه د خلاص ولايتونو شمير په ورته ډول پاتې شو ، په ۱۴ کې ، يوازې په ۲۰۱۵ کال کې بلخ خپل کوکنار نه حيثيت له لاسه ورکړ. په افغانستان کې د کوکنارو د کښت ۹ سلنه د هيواد سويل ، ختيځ او لويديز سيمو کې رامينځته شوې ، چې پدې کې د هيواد ډير نا امنه ولايتونه شامل دي. سويلي سيمه د ټول کښت ۶۶ سلنه برخه لري ، لويديز سيمه په ۲۴ سلنه او ختيځ سيمه کې په سلو کې ۷ په کاپيسا ، کنړ ، لغمان او ننګرهار واليتونو کې کرل کيږي. پاتې سيمې (شمالي ، شمال ختيځ او مرکزي) په ګډه د کښت ۳ سلنه جوړوي.<br>• په ۲۰۱۵ کال کې د افغانستان د مخدره توکو کاروني ملي سروې په وينا ، کوم چې ښاري او کليوالي معلومات سره راټولوي ، په افغانستان کې د اټکل له مخې له ۲.۹ مليونو څخه تر ۳.۵ مليونو پورې نارينه ، ښځينه او ماشومان د مخدره توکو کارونکې شتون لري. د لويانو د نشه يي توکو کاروونکو په ملي کچه د ۱.۹ مليون او ۲.۴ مليونو ترمنځ اټکل شوې ، کوم چې د بالغ نفوس ۱۲.۶ سلنه استازيتوب کوي. دا شميره د لوی نفوس لپاره د نړۍ په کچه د مخدره توکو کاروني کچه له ۵.۶ سلنې څخه دوه چنده زياته ده.<br>• په ۲۰۱۵کال کې ، په هيواد کې د مخدره توکو روږدي کيدو ناڅاپي حالت ته په ځواب کې ، د افغانستان حکومت د مخدره توکو او جرمونو په اړه د ملګرو ملتونو د دفتر او نورو نړيوالو سازمانونو تخنيکي ملاتړ سره ، د مخدره توکو د درملنې ۵ نوي مرکزونه جوړ او ۱۳ نوي کړل. |

| | |
|---|---|
| | • په ۲۰۱۵ کې ، د انتقال پلان په تعقیب ، د نشه یی توکو او جرمونو په اړه د ملګرو ملتونو دفتر او نورو نړیوالو سازمانونو لخوا ۲۶ د درملنې مرکزونه حکومت ته وسپارل شول. دا مرکزونه د نږدې ۳۳۰۰۰ درملنې کلنی ظرفیت لري. په هرصورت ، دا په هیواد کې د تریاک او هیرویینو یوازې ۸ سلنه کاروونکو ته اجازه ورکوي چې د درملو هر ډول خدماتو ته لاسرسی ومومي. |
| د موثره مخنیوي او قاچاق ضد هڅو په برخه کې زیاتوالی | • په ۲۰۱۵ کال کې ، د افغانستان د قانون پلي کونکو ادارو د مخدره توکو پروړاندې ۲۶۱۷ عملیات ترسره کړي چې په پایله کې یې ۵۲۷۱ کیلو ګرامه هیرویین، ۳۰۱۸۰ کیلو ګرامه تریاک ، ۱۳کیلو ګرامه مورفین ، ۱۷ کیلو میتهامفتیمین ، ۱۶۲۸۱۷ کیلو ګرامه چرس ، ۱۶۹۹ کیلو ګرامه جامد کیمیاوی جامد پریکرسرونه او ۳۸۶۹ لیتره مایع کیمیاوی پریکرسرونه نیول شوي. سربیره پردې ، د مخدره توکو پروړاندې عملیات د هیروینو جوړولو درې لابراتوارونو او یو میتامفیتامین لابراتوار له منځه وړو لامل شو. په نورو عملیاتو کې د ۶۲۶ موټرو ، ۴۱۷ وسلو او ۴۰۷ ګرځنده تلیفونونو ضبط کول شامل دي. د مخدره توکو پروړاندې د دې عملیاتو په جریان کې ۹۳۹ شکمن کسان نیول شوي دي. په دغو عملیاتو کې، د افغان ملي امنیت ځواکونو ۱۶غړي وژل شوي او ۱۹ نور ټپیان دي. |
| | • د افغانستان او ګاونډیو هیوادونو لپاره د مخدره توکو او جرمونو سیمه ایز پروګرام لپاره د ملګرو ملتونو دفتر د مخدره توکو ستونزې حل لپاره په سیمه کې د جزایی عدالت کارکوونکو لپاره د ظرفیت لوړولو او عملیاتي غوره کړنو ملاتړ او د اړیکو جوړونې فرصتونه چمتو کړي. په ۲۰۱۵ کې، پدې کې د افغانستان ، قرغزستان او تاجیکستان د وزیرانو د بیاکتنې غونډې ملاتړ شامل و چې د می په میاشت کې په دوشنبه کې جوړه شوې وه. پدې ناسته کې ، د مخدره توکو کنټرول ادارې قانون پلي کونکو او قضایي چارواکو ، د بهرنیو چارو وزارتونو ، لویې څارنوالۍ دفترونو او مالي استخباراتي واحدونو د قانوني او پلي کوني همکاریو په اړه بحث وکړ ترڅو د ستراتیژیو ترتیب کولو ته لاره هواره کړي تر څو د عملیاتو پلي کولو ملاتړ وکړي کوم چې د شکمنو کسانو عدلي تعقیب زمینه برابره کړي. برخه اخیستونکو په دې نظر وو چې اړینه وه چې د قانون پلي کونکي او قضایي چارواکي راټول شي ترڅو په سیمه کې د مخدره توکو پروړاندې د هڅو عمومي اغیزو ته وده ورکړل شي. |
| په هغو ځمکو کې چې پخوا پرې تریاک کرل کیدل، په قانونه کرهنه او اړوند خصوصي پانګونې کې د پانګې اچونې زیاتوالی | • د کوکنارو په کښت کې د ۱۹ سلنې کمښت او د تریاکو په تولید کې د ۴۸ کموالي سربیره ، د قانوني محصولاتو په تولید او تولید کې د پام وړ پرمختګ یادونه وشوه. د احصایي مرکزي ادارې په وینا ، د ۲۰۱۴/۱۵ کلونو په جریان کې ، د حبوباتو ، سبزیجاتو او تازه میوو تولید کې په ترتیب سره د ۴.۹ سلنه ، ۵.۶ سلنه او ۱۲ سلنه ډیروالی ثبت شوی ، پداسې حال کې چې ۴ سلنه او ۱۰.۱ ډیروالی د ۲۰۱۳ او ۲۰۱۴ کلونو په پرتله په ترتیب سره د وچې میوو او قالینو په |

| | |
|---|---|
| صادراتو کې راپور شوي. شاوخوا ۴۰۰۰۰ ټنه انار ، ې د ۱۰ ملیونه ډالرو په ارزښت ، له سویلي کندهار ولایت څخه بهرنیو هیوادونو ته صادر شوي دي. | |
| • د مخدره توکو پروړاندې د مبارزې وزیر په ۲۰۱۶ کال کې د نړۍ د مخدره توکو ستونزې په اړه د ملګرو ملتونو د عمومي غونډې ځانګړې چمتووالي لپاره ، د مخدره توکو او جرمونو په اړه د ملګرو ملتونو دفتر په مرستی سره ، د بدیل پراختیا دوهم نړیوال کنفرانس کې ګډون وکړ. په نړیواله کچه د پالیسۍ جوړوونکو ، کارپوهانو ، پرمختیایی متخصصینو ، او د ۲۷ هیوادونو څخه د مدني ټولنې استازو پدې ناسته کې برخه اخیستې وه ، ترڅو د بدیل پراختیا د نړیوالې پراختیا په اجنډا تر بحث لاندې ونیسي. | |